من کلام رسول رب العلمین صلی الله علیه وسلم

# زاد الطالبین

پښتو ترجمه


تالیف
مولانا عاشق الهی البرنیؒ
ترجمه
مولوی عبدالله عفی عنه



فیضی کتبخانه محله جنگی پشاور
فون: 091-2566505

# زاد الطالبين

پښتو ترجمه

﴿تالیف﴾

مولانا عاشق الهی البرنیؒ

﴿ترجمه﴾

مولوی عبدالله عفی عنه

فیضی کتب خانه

محله جنګی پیښور

Mob:03339194846

# د کتاب پیژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | زادالطالبین |
| لیکوال | مولانا عاشق الهی البرنی رح |
| [illegible] | |
| | |
| | 0706912702 |
| | |


https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ویبپاڼې څخه لیدنه وکړی

BAWAR LIBRARY

باور کتابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

# بسم اللّٰه الرّحمن الرّحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ شَرَّفَنَا عَلٰی سَائِرِ الْاُمَمِ بِرِسَالَةِ مَنْ اِخْتَصَّهٗ مِنْ بَیْنِ الْاَنَامِ بِجَوَامِعِ الْکَلِمِ وَ جَوَاهِرِ الْحِکَمِ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ بَارَكَ وَ سَلَّمَ مَا نَطَقَ اللِّسَانُ بِمَدْحِهٖ وَ نَسَخَ الْقَلَمُ۔

**ترجمه:**۔ ټول تعریفونه الله پاک لره دی هغه الله چه هغهٔ مونږ ته په ټولو امتونو باندے فضیلت راکړو په رسالت دَ هغه چا خاص کړے ئی دے په مخلوق کښے په جامعو خبرو او حکمتونو ملغلرو سره ' الله تعالی دِ په هغهٔ ' دَ هغهٔ په اولاد او صحابه کرامو باندے پوره رحمت ' برکت او سلامتیا نازله کړی تر کومے پورے چه ژبه دَ هغه په مدحه کښے نطق کوی او تر کومے پورے چه قلم کتابت کوی۔

اَمَّا بَعْدُ : فَهٰذَا کِتَابٌ وَجِیْزٌ مُنْتَخَبٌ مِنْ کَلَامِ الشَّفِیْعِ الْعَزِیْزِ اقْتَبَسْتُهٗ مِنَ الْکِتَابِ اللَّامِعِ الصَّبِیْحِ

الْمَعْرُوْفِ بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ وَسَمَّيْتُهُ زَادَ الطَّالِبِيْنَ مِنْ كَلَامِ رَسُوْلِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ﷺ اَلْفَاظُهُ قَصِيْرَةٌ وَمَعَانِيْهِ كَثِيْرَةٌ يَتَنَضَّرُ بِهٖ مَنْ قَرَأَهٗ وَحَفِظَهٗ وَيَبْتَهِجُ بِهٖ مَنْ دَرَسَهٗ وَسَمِعَهٗ وَرَتَّبْتُهٗ عَلَى الْبَابَيْنِ يَعُمُّ نَفْعُهُمَا فِى الدَّارَيْنِ وَاللّٰهَ أَسْئَلُ اَنْ يَّجْعَلَهٗ خَالِصًا لِّوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسَبَبًا لِّدُخُوْلِ دَارِ النَّعِيْمِ فَاِنَّهٗ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ وَاِنَّهٗ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ.

ترجمه:۔ امابعد! دا یو مختصر کتاب دے منتخب دے دَ شفیع او عزیز دَ کلام نه ما اخستلے دے دَ هغے پړقیدونکی، روښانه کتاب نه چه په مشکوة المصابیح مشهور دے۔ او ما دَ دے نوم زاد الطالبین کیخودلو چه دَ رب العالمین دَ رسول دَ کلام نه ماخوذ دے۔ الفاظ ئی کم او معانی ئی ډیرے دی تر وتازه کیږی په دے هغه څوک چه ئی لولی او یادوی او ښائسته کیږی پرے هغه څوک چه ئی ښائی او اوری ما دے له په دوؤ بابونو کښے ترتیب ورکړو چه دَ هغے فائده دِ په دواړو جهانو کښے عامه وی۔ او خاص دَ الله تعالی نه دا غوښتنه کوم چه دا (کتاب) خالص دَ خپل کریم ذات دَ رضا دَ او جنت ته دَ داخلیدو دَ پاره سبب اوګرځوی۔ ځکه چه هغه زیات مغفرت

والا او لوی فضل والا دی۔

# اَلْبَابُ الْاَوَّلُ
## فِیْ جَوَامِعِ الْکَلِمِ وَمَنَابِعِ الْحِکَمِ وَالْمَوَاعِظِ الْحَسَنَةِ

ړومبی باب دَ جامعو خبرو، دَ حکمتونو دَ چشمو او په ښکلی نصیحتونو کښی دی۔

(۱) قَالَ النَّبِیُّ ﷺ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ وَ اِنَّمَا لِاِمْرِیٍٔ مَّانَوٰی فَمَنْ کَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَنْ کَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلٰی دُنْیَا یُصِیْبُهَا اَوْ امْرَأَةٍ یَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهٗ اِلٰی مَا هَاجَرَ اِلَیْهِ. (رواه البخاری و مسلم)

نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی: بی شکه دَ عملونو دار ومدار په نیتونو دی او بی شکه هر یو سړی دَ پاره هغه څهٔ دی چه دَ هغی ئی نیت کړی وی پس هغه بنده دَ هغهٔ هجرت الله او رسول الله ﷺ ته وی پس هجرت دَ دهٔ الله او رسول الله ﷺ ته دی او هغه بنده چه هجرت ئی دنیا ته وی چه حاصله ئی کړی یا ښځی ته وی چه نکاح ورسره اوکړی پس هجرت دَ دهٔ هغی طرف ته دی کوم ته چه دهٔ هجرت کړی وی۔

(۲) اَلدِّیْنُ النَّصِیْحَةُ. (رواه مسلم)

(۲) دین خیر خواهي ده۔

(۳) اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ . (رواه الترمذی)

(۳)دعا دَ عبادت نلے (مغز) دے۔

(۴) اَلْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ .(رواه ابوداوُد)

(۴)مجلسونه په امانت دی،یعنی دَ مجلس قول ، فعل امانت دے۔

(۵) اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْإِيْمَانِ .(رواه البخاری ومسلم)

(۵)حیاء دَ ایمان یوه څانګه ده۔

(٦) اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ

(٦)بنده هغه چا سره وی چا سره چه ئی محبت وی۔

(۷) اَلْخَمْرُ جُمَّاعُ الْاِثْمِ

(۷) شراب دَ ګناهونو مجموعه ده۔

(۸) اَلْأَنَاةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْعُجْلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ (رواه الترمذی)

(۸)بردباری دَ الله تعالی دَ طرف نه ده او جلتی دَ شیطان دَ طرف نه ده۔

(۹) اَلْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيْمٌ وَالْفَاجِرُ خَبٌّ لَئِيْمٌ (رواه احمد والترمذیؒ)

(۹) مؤمن ساده شریف وی او منافق دوکه باز او رذیل وی۔

(۱۰) اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (متفق علیه)

(۱۰) ظلم تیارے دی دَ قیامت په ورځ۔

(۱۱) اَلْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِئٌ مِّنَ الْكِبْرِ (رواه البیهقی)

(۱۱)په سلام اچولو کښې وړاندې والې کونکې دَ تکبر نه بری دې۔

(۱۲) اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْکَافِرِ (رو۔ہ مسلم)

(۱۲)دنیا دَ مؤمن دَ پاره جیل او دَ کافر دَ پاره جنت دې۔

(۱۳)اَلسِّوَاکُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ وَ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ (رواه البیهقی)

(۱۳)مسواک خلهٔ صفا کونکې دې او رب رضا کونکې دې۔

(۱۴) اَلْیَدُ الْعُلْیَا خَیْرٌ مِّنَ الْیَدِ السُّفْلٰی

(۱۴)او چت لاس دَ لاندې لاس نه بهتر دې۔

(۱۵)اَلْغِیْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا (رواه البیهقی)

(۱۵)غیبت دَ زنا نه زیات سخت دې۔

(۱۶) اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَان. (رواه مسلم)

(۱۶)صفائی نیم ایمان دې۔

(۱۷) اَلْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَّکَ اَوْ عَلَیْکَ (رواه مسلم)

(۱۷)قرآن پاک خو یا ستا دَ پاره حجت دې یا په تا باندې حجت دې۔

(۱۸) اَلْجَرَسُ مَزَامِیْرُ الشَّیْطَان (رواه مسلم)

(۱۸) جرس دَ شیطان شپیلۍ دی۔

(۱۹) اَلنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ. (رواه رزين)

(۱۹)ښځې دَ شیطان جالونه دی۔

(۲۰) اَلطَّاعِمُ الشَّاكِرُ كَالصَّائِمِ الصَّابِرِ (رواه الترمذی)

(۲۰)خوړونکے شکر ویستونکے دَ صبر کونکی روژه دار په شان دے۔

(۲۱) اَلْاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ. (رواه البیهقی)

(۲۱)په خرچو کښې میانه روی کول دَ ژوند تیرولو نیمه حصه ده۔

(۲۲) وَالتَّوَدُّدُ اِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ. (رواه البیهقی)

(۲۲) او خلقو سره محبت کول نیم عقل دے۔

(۲۳)وَحُسْنُ السُّوَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ.

(۲۳) او ښهٔ پوښتنه نیم علم دے۔

(۲۴) اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ (رواه ابن ماجه)

(۲۴)دَ گناهونو نه توبه ویستلو والا دَ هغه چا په شان دے چه گناه ئې نهٔ وی۔

(۲۵)اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ اتَّبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ۔

(۲۵)هوښیار سړے هغه دے چه دَ خپل نفس خیال ساتی او دَ

مرګ نه پس چه څۀ (حالات) دی هغې له عمل اوکړی. او بے وقوف هغه دے چه خپل ځان دَ نفس دَ خواهشاتو تابع کړی او آرزو کوی دَ الله تعالی نه.

(۲۶) اَلْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ وَلَا خَيْرَ فِيْمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ

(۲۶)مؤمن سراسر محبت دے او هیڅ خیر نشته په هغه چا کښے چه محبت نۀ کوی او نۀ ورسره محبت کولے شی.

(۲۷)اَلْغَنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ (بيهقی)

(۲۷)سندره په زړۀ کښے نفاق داسے راټوکوی لکه څنګه چه اوبۀ فصل راټوکوی.

(۲۸)اَلتُّجَّارُ يُحْشَرُوْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فُجَّارًا إِلَّا مَنِ اتَّقٰى وَبَرَّ وَصَدَقَ. (رواه الترمذی)

(۲۸)سوداګر به دَ قیامت په ورځ راجمع کولے شی بدکاران، لیکن هغه نه چا چه پرهیز، نیکی اوکړه او رشتیائی اووئیل.

(۲۹)اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْأَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ (رواه الترمذی)

(۲۹)امانت دار، رشتینے سوداګر به دَ پیغمبرانو، صدیقینو او شهیدانو سره وی.

(۳۰) اٰيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ (بخاری)

(۳۰) دَ منافق درے علامے دی چه خبرے کوی نو دروغ وائی او چه وعده اوکړی نو ماتوی ئی او چه امانت ورسره کیخودے شی نو خیانت پہ کښے کوی۔

(۳۱) اَلْكَبَائِرُ الْاِشْرَاکُ بِاللّٰهِ وَ عُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَ قَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ (رواه البخاری)

(۳۱) لوے گناهونه الله پاک سره شرک کول، دَ مور پلار نافرمانی (بے گناه) بنده وژل او دَ دروغو قسم دی۔

(۳۲) اَلْبِرُّ حُسْنُ الْخُلْقِ وَالْاِثْمُ مَا حَاکَ فِيْ صَدْرِکَ وَ کَرِهْتَ أَنْ يَّطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ. (رواه مسلم)

(۳۲) نیکی ښکلے اخلاق دی او گناه هغه ده چه ستا پہ زړهٔ کښے شک واچوی او تهٔ بده گنړے چه پہ دے خلق خبر شی۔

(۳۳) اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللّٰهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَی اللّٰهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عِيَالِهِ. (رواه البيهقی)

(۳۳) مخلوق دَ الله تعالی تعلق دار دی پس پہ مخلوق کښے هغه څوک دَ الله تعالی خوښ دے چه دَ دهٔ تعلق دارو سره احسان کوی۔

(۳۴) اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَ يَدِهٖ۔

(۳۴)مسلمان هغه دے چه دَ هغهٔ دَ ژبے او دَ لاس نه مسلمانان محفوظ وی۔

(۳۵) وَالْمُؤْمِنُ مَنْ اَمِنَهُ النَّاسُ عَلٰى دِمَائِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ

(۳۵)او مؤمن هغه دے چه دَ دهٔ نه خلق په امن کښے په خپلو وینو او مالونو باندے۔

(۳۶)وَالْمُجَاهِدُمَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ فِىْ طَاعَةِ اللّٰهِ

(۳۶)اومجاهد هغه بنده دے چه دَ الله په طاعت کښے خپل نفس سره جهاد اوکړی۔

(۳۷)وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ۔

(۳۷)او مهاجر هغه بنده دے چه ټولے خطاګانے او ګناهونه پریږدی۔

(۳۸) اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِىْ وَالْيَمِيْنُ عَلَى الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ(ترمذی)

(۳۸)ګواهان پیش کول په دعوی کونکی باندے او قسم په هغه چا دے چه دعوی پرے شوے وی۔

(۳۹) اَلْمُؤْمِنُ مِرْاٰةُ الْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنُ اَخُو الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَنْهُ ضَيْعَتَهٗ وَ يَحُوْطُهٗ مِنْ وَّرَآئِهٖ

(۳۹)مؤمن دَ مؤمن دَ پاره شیشبه ده او مؤمن دَ مؤمن رور دے د هغهٔ نه نقصان منع کوی او په غیر موجودګئ کښے ئی حفاظت کوی۔

(۴۰) اَلْمُؤْمِنُوْنَ کَرَجُلٍ وَاحِدٍ اِنِ اشْتَکٰی عَیْنُهٗ اِشْتَکٰی کُلَّهٗ وَ اِنِ اشْتَکٰی رَاْسُهٗ اشْتَکٰی کُلَّهٗ. (رواه مسلم)

(۴۰)مؤمنان دَ یو سړی په شان دی کهٔ دَ دهٔ سترګه خوږ شی نو ټول بدن ئی درد محسوسوی او کهٔ په سر ئی درد وی نو هم ټول بدن ئی درد محسوسوی۔

(۴۱) اَلسَّفَرُ قِطْعَةٌ مِّنَ الْعَذَابِ یَمْنَعُ اَحَدَکُمْ نَوْمَهٗ وَ طَعَامَهٗ وَشَرَابَهٗ فَاِذَا قَضٰی أَحَدُکُمْ نَهْمَتَهٗ مِنْ وَجْهِهٖ فَلْیُعَجِّلْ اِلٰی أَهْلِهٖ (رواه البخاری و مسلم)

(۴۱)سفر دَ عذاب یوه حصه ده په تاسو کښے یو کس دَ خوب، خوراک او څکاک نه بندوی پس هر کله چه په تاسو کښے یو کس په خپله موقعه باندے خپل حاجت پوره کړی نو خپل کور والا ته د‍ِ زر واپسی اوکړی۔

## نَوْعٌ اٰخَرٌ مِنْهَا

(۴۲)قَفْلَةٌ کَغَزْوَةٍ (ابو داود)

(۴۲) واپسی (دَ غزا نه) دَ غزا په شان ده۔

(۴۳) مَطَلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ (رواه الشيخان)

(۴۳) دَ مالدار ټال مټول ظلم دے۔

(۴۴) سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ (بيهقى)

(۴۴) دَ قوم سردار په سفر کښے دَ قوم خادم وی۔

(۴۵) حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِيْ وَ يُصِمُّ

(۴۵) ستا محبت يو شی سره (تا) ړندوی او کڼروی۔

(۴۶) طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ (بيهقى و ابن ماجه)

(۴۶) دَ علم طلب په هر مسلمان فرض دے۔

(۴۷) مَا قَلَّ وَ كَفٰى خَيْرٌ مِّمَّا كَثُرَ وَ اَلْهٰى (رواه ابو نعيم)

(۴۷) هغه چه کم وی او پوره شی دَ هغے نه بهتر دے چه ډير وی او غفلت راولی۔

(۴۸) اَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالْاَسْحَارِ (رواه الترمذى)

(۴۸) دَ ټولو نه زيات رشتينے خوب دَ پيشمنی په وخت کښے وی

(۴۹) طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ (بيهقى)

(۴۹) حلاله کټه کول دَ باقی فرائضو نه پس فرض دی۔

(۵۰) خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ (بخارى)

(۵۰) په تاسو کښے دَ ټولو نه غوره هغه ښوک دے چه قرآن زده

کوی او بل ته ئی بنائی۔

(۵۱)حُبُّ الدُّنیَا رَأْسُ کُلِّ خَطِیئَةٍ (رزین)

(۵۱)دَ دنیا محبت دَ هرے گناه جرړه ده۔

(۵۲) أَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ أَدْوَمُهَا وَ إِنْ قَلَّ (بخاری و مسلم)

(۵۲)دَ ټولو نه زیات خوښ الله تعالی ته هغه عملونه دی چه همیشه وی اګر چه لږ وی۔

(۵۳)اَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ تُشْبِعَ کَبِدًا جَائِعًا (بیهقی)

(۵۳)دَ ټولو نه بهتره صدقه دا ده چه تهٔ یو اوږے ځیګر موړ کړے۔

(۵۴)مَنْهُومَانِ لَا یَشْبَعَانِ مَنْهُومٌ فِی الْعِلْمِ لَا یَشْبَعُ مِنْهُ وَ مَنْهُومٌ فِی الدُّنیَا لَا یَشْبَعُ مِنْهَا (بیهقی)

(۵۴)دوه حرصناک هیچرے نهٔ مړیږی یو په علم کښے حریص چه په علم نهٔ مړیږی او بل دَ دنیا حریص چه دَ دے نه نهٔ مړیږی۔

(۵۵)اَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ کَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ (ترمذی)

(۵۵)بهترین جهاد دا دے چه څوک دَ ظالم بادشاه په وړاندے حقه خبره اوکړی۔

(۵۶)لَغَدْوَةٌ فِی سَبِیْلِ اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَیْرٌ مِّنَ الدُّنیَا وَمَا

فِيهَا ( بخاری ومسلم)

(۵٦)یو سحر په جهاد کښې تلل یا یو ماښام دا بهتره ده دَ دنیا نه او

څهٔ چه په دنیا کښې دی (دَ هغې نه هم)

(۵۷)فَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ(

ترمذی )

(۵۷)یو فقیه (عالم) زیات سخت دے په شیطان دَ زرو عبادت ګزارو

نه۔

(۵۸)طُوْبٰى لِمَنْ وُجِدَ فِيْ صَحِيْفَتِهٖ اسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا.

( ابن ماجه )

(۵۸)زیرے دے دَ هغے سړی دَ پاره چه په خپله عمل نامه کښې ئې

ډیر استغفار اوموندلو۔

(۵۹)رِضَى الرَّبِّ فِيْ رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِيْ

سَخَطِ الْوَالِدِ (رواه الترمذی )

(۵۹)دَ رب رضامندی دَ پلار رضامندئ کښې ده او دَ رب خفګان دَ

پلار خفګان کښې دے۔

(٦٠)حَقُّ كَبِيْرِ الْاِخْوَةِ عَلٰى صَغِيْرِهِمْ حَقُّ الْوَالِدِ عَلٰى

وَلَدِهٖ (بیهقی)

(٦٠)په رونړو کښې دَ مشر رور حق هغه دے په کشرانو باندے کوم

چه دَ پلار حق دے په اولاد باندے۔

(۶۱) كُلُّ بَنِيْ اٰدَمَ خَطَّاءٌ وَ خَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ

(ترمذی)

(٦١) هر بنیادم غلطی کونکے دے او غلطئ کونکو کښے بنهٔ خلق هغه دی کوم چه توبه کونکی دی۔

(۶۲) كَمْ مِّنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ صِيَامِهٖ إِلَّا الظَّمأُ وَكَمْ مِّنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ قِيَامِهٖ إِلَّا السَّهَرُ . (دارمی)

(٦٢) ډیر روژه دار داسے دی چه هغوی دَ پاره روژه کښے صرف تنده او ډیر قیام کونکی داسے دی چه دَ هغوی دَ پاره قیام کښے صرف بیدار والے وی۔

(۶۳) مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهٗ مَالَا يَعْنِيْهِ.

(ترمذی واحمد وغیرهما)

(٦٣) دَ بنده دَ اسلام دَ ښکلا نه دا خبره هم ده چه هغه څهٔ پریږدی کوم چه بے فائدے وی۔

(۶۴) اَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ.

(رواه الشیخان والحدیث طویل)

(٦٤) خبردار په تاسو کښے هر یو کس ساتونکے دے او هر چا نه به دَ خپلو لاندے خلقو پاره کښے پوښتنه کولے شی۔

(٦٥)اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَی اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَی اللّٰهِ أَسْوَاقُهَا ( مسلم )

(٦٥)په ښارونو کښې زيات خوښ الله تعالی ته جماتونه دی او په ښارونو کښې ورته دَ ټولو نه زيات ناخوښه بازارونه دی۔

(٦٦)اَلْوِحْدَةُ خَيْرٌ مِّنْ جَلِيْسِ السُّوْءِ وَالْجَلِيْسُ الصَّالِحُ خَيْرٌ مِّنَ الْوَحْدَةِ

(٦٦)ځانله والے دَ بد ملګری نه ښۀ دے او ښۀ ملګرے دَ ځانله والی نه ښۀ دے۔

(٦٧)وَإِمْلَاءُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِّنَ السُّكُوْتِ والسُّكُوْتُ خَيْرٌ مِّنْ إِمْلَاءِ الشَّرِّ ( بیهقی )

(٦٧)دَ خير دَ خبرو بيان دَ خاموشۍ نه ښۀ دے او خاموشی دَ شر دَ خبرو نه ښۀ ده۔

(٦٨)تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ اَلْمَوْتُ(بیهقی )

(٦٨)مرګ دَ مؤمن دَ پاره تحفه ده۔

(٦٩)يَدُ اللّٰهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ ( ترمذی )

(٦٩)دَ الله تعالی لاس په جماعت وی۔

(٧٠) كُلُّ كَلَامِ ابْنِ ادَمَ عَلَيْهِ لَا لَهٗ اِلَّا اَمْرٌ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ نَهْیٌ عَنْ مُنْكَرٍ اَوْ ذِكْرُ اللّٰهِ (ترمذی )

(۷۰) دَ بنيادم ټول کلام په دهٔ باندے بوج دے دَ دهٔ دَ پاره فائده نهٔ ده لیکن دَ ښهٔ (خبرے یا کار) امر کول یا دَ بدے (خبرے یا بد کار) نه منع کول یا دَ الله تعالی ذکر کول۔

(۷۱) مَثَلُ الَّذِیْ یَذْکُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَا یَذْکُرُ مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّتِ (بخاری و مسلم)

(۷۱) دَ هغے بنده مثال چه رب ذوالجلال یادوی او دَ هغے بنده مثال چه ئی نهٔ یادوی دَ ژوندی او دَ مړی دے۔

(۷۲) مَثَلُ الْعِلْمِ لَا یُنْتَفَعُ بِهٖ کَمَثَلِ الْکَنْزِ لَا یُنْفَقُ مِنْهُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ (احمد و دارمی)

(۷۲) مثال دَ هغے علم چه فائده ترے نهٔ شی اخستلے دَ هغے خزانے په شان دے چه دَ هغے نه دَ الله تعالی په لار کښے خرچ نهٔ کیږی۔ (انتفاع بالعلم دَ انفاق فی سبیل الله برابر کار دے)

(۷۳) اَفْضَلُ الذِّکْرِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ (ترمذی)

(۷۳) دَ ټولو نه بهتر ذکر لا اله الا الله دے او دَ ټولو نه بهتره دعا الحمد لله ده۔

(۷۴) اَوَّلُ مَنْ یُّدْعٰی اِلَی الْجَنَّةِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اَلَّذِیْنَ یَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِی السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ.

(۷۴)دَ ټولو نه وړاندے چه به څوک دَ قیامت په ورځ جنت ته را
بللے شی دا به هغه کسان چه دَ الله تعالی حمد په سختنه او راحت
کښے کوی۔

# نَوْعٌ اٰخَرُ مِنْهَا

أَیْ مِنَ الْجُمْلَةِ الْاِسْمِیَّةِ وَهُوَ مَا دَخَلَ عَلَیْهَا لَا

(۷۵) لَا إِیْمَانَ لِمَنْ لَّا أَمَانَةَ لَهٗ (بیهقی)

(۷۵)هیڅ ایمان نشته دَ هغے بنده چه په هغهٔ کښے امانت نهٔ
وی۔

(۷۶) وَلَا دِیْنَ لِمَنْ لَّا عَهْدَ لَهٗ ( بیهقی )

(۷۶) او هیڅ دین نشته دَ هغے بنده چه په هغهٔ کښے دَ لوظ
پابندی نهٔ وی۔

(۷۷)لَا حَلِیْمَ إِلَّا ذُوْ عُثْرَةٍ ( احمد و ترمذی )

(۷۷)هیڅ څوک بردبار نشته سوا دَ لغزش کونکی نه ۔

(۷۸) وَلَا حَکِیْمَ إِلَّا ذُوْ تَجْرِبَةٍ (احمد و ترمذی )

(۷۸)او هیڅ څوک هوښیار نشته سوا دَ تجربه کار نه۔

(۷۹) لَا عَقْلَ کَالتَّدْبِیْرِ ( بیهقی )

(۷۹) دَ تدبیر په شان عقل نشته ۔

(۸۰) وَلَا وَرَعَ کَالْکَفِّ (بیهقی)

(۸۰)او د بندیدلو په شان پرهیز نشته۔

(۸۱) وَلَا حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ ( بیهقی )

(۸۱)او دَ ښکلے اخلاقو په شان شرافت نشته۔

(۸۲)لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِى مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ .

(رواه فی شرح السنة)

(۸۲) هیڅ تابعداری روا نۀ ده مخلوق دَ پاره دَ خالق په نافرمانئ کښے۔

(۸۳)لَا صَرُورَةَ فِى الْإِسْلَام(ابو داود)

(۸۳)په اسلام کښے تعلق قطع کول نشته۔(یا نکاح نۀ کول اسلام کښے نشته)

(۸۴) لَابَأْسَ بِالْغِنٰى لِمَنْ اتَّقَى اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ .

(رواه احمد)

(۸۵)په مالدارئ کښے دَ هغے چا دَ پاره هیڅ باک نشته څوک چه دَ الله پاک نه یره کوی۔ " چه عزت والا او لوے دے"۔

# اَلْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّةُ
## الَّتِىْ دَخَلَتْ عَلَيْهَا حَرْفُ إِنْ

(۸۵)إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا (بخاری)

(۸۵)بیشکه بعضے بیان جادو وی۔

(۸۶)إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةٌ (بخاری)

(۸٦)بیشکه بعضے شعر حکمت وی۔

(۸۷)إِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا (ابوداود)

(۸۷)بیشکه بعضے علم جهالت وی۔

(۸۸)إِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عَيَالًا (ابوداود)

(۸۸)بیشکه بعضے خبرے وبال وی۔

(۸۹)إِنَّ يَسِيرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ (ابن ماجه)

(۸۹)بیشکه لږه شان ریاء (ځان خودل) هم شرک دے۔

(۹۰) إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ

(۹۰)بیشکه نیک بخته هغه بنده دے چه دَ فتنو نه بچ شو۔

(۹۱) إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ (ترمذی)

(۹۱)بیشکه چه چا نه مشوره غوستلے شی هغه امین ګڼړلے شی۔

(۹۲)إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ (احمد)

(۹۲)بیشکه اولاد دَ بخل او بزدلئ سبب دے۔

(۹۳)إِنَّ الصِّدْقَ طَمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ

(رواه احمد)

(۹۳)بے شکه رشتیا وئیل دَ اطمینان باعث دی او بیشکه دروغ

وئیل دَ بے قراریٔ باعث دی۔

(۹۴)إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ (مسلم)

(۹۴)بیشکه الله تعالی ښکلے دے او ښکلا خوښوی۔

(۹۵)إِنَّ لِكُلِّ شَیْءٍ شِرَّةٌ وَ لِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ (ترمذی)

(۹۵)بیشکه په هر څیز کښے تیزی وی او دَ هرے تیزیٔ دَ پاره

سستی وی۔

(۹۶)إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ اَجَلُهُ (ابونعیم)

(۹۶)بیشکه رزق بنده داسے تلاش کوی لکه څنګه چه ئی دَ

مرګ نیټه تلاش کوی۔

(۹۷)إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِیْ مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَی الدَّمِ.

(۹۷)بیشکه شیطان په انسان کښے دننه دَ وینے ګرځیدو په ځائے

کښے ګرځی۔

(۹۸)إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةٌ وَفِتْنَةُ أُمَّتِیْ الْمَالُ (ترمذی)

(۹۸)بیشکه دَ هر امت یو امتحان وی او زما دَ امت امتحان مال

دے۔

(۹۹) إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ

(ترمذی)

(۹۹)بیشکه ډیر زر قبلیدونکے دعا، دَ غائب دعا دَ غا ئب دَ پاره ده۔

(۱۰۰)إِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ

(ابن ماجه)

(۱۰۰)بیشکه انسان دَ رزق نه دَ هغے گناه په وجه محروم کیږی کومه چه ئی کړے وی۔

(۱۰۱) إِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا

(رواه فی شرح السنة)

(۱۰۱)بیشکه یو نفس تر هغے وخته پورے نهٔ مری کومے پورے چه ئی خپل رزق پورے کړے نهٔ وی۔

(۱۰۲) إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَ تَدْفَعُ مِيْتَةَ السُّوْءِ (ترمذی)

(۱۰۲)بیشکه صدقه دَ رب تعالی غصه سړه وی او خراب مرګ دفع کوی۔

(۱۰۳)إِنَّكَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِّنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوٰى (رواه احمد)

(۱۰۳) بیشکه تهٔ دَ سور او تور رنګ والا نه بهتر نهٔ ئے مګر دا چه تهٔ دَ هغهٔ نه په تقوی کښے زیات شے۔

(۱۰۴)إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى صُوَرِكُمْ وَ اَمْوَالِكُمْ وَ لٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَ اَعْمَالِكُمْ( رواه مسلم)

(۱۰۴)بیشکه الله تعالی ستاسو صورتونو او مالونو ته نهٔ ګوری بلکه ستاسو زړونو او اعمالو ته ګوری۔

(۱۰۵)إِنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ اَنْ تَلْقٰى اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ.

(رواه احمد و ترمذی)

(۱۰۱)بیشکه دَ نیکئ نه دا کار هم دے چه تهٔ دَ خپل رور سره په روښانه مخ ملاؤ شے۔

(۱۰۶)إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ ( ترمذی )

(۱۰۶)بیشکه په خلقو کښے الله تعالی ته زیات نزدے هغه بنده دے چه په سلام کښے ابتداء کوی۔

(۱۰۷)إِنَّ الرِّبٰو وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهٗ تَصِيْرُ إِلٰى قُلٍّ.

(رواه ابن ماجه)

(۱۰۷)بیشکه سود اګر چه زیات وی خو بیشکه دَ هغے انجام دَ کمی طرف ته ځی۔

(۱۰۸)إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيْمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ (بیهقی)

(۱۰۸)بیشکه غصه ایمان داسے خرابوی لکه څنګه چه مصبر

شهد خرابوی۔

(۱۰۹)إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ وَ إِنَّ الْبِرَّ يَهْدِیْ إِلَى الْجَنَّةِ ( مسلم )

(۱۰۹)بیشکه رشتیا نیکی ده او بیشکه نیکی دَ جنت طرف ته لار خودنه کوی۔

(۱۱۰)وَ إِنَّ الْكِذْبَ فُجُوْرٌ وَ إِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِیْ إِلَى النَّارِ ( مسلم)

(۱۱۰)او بیشکه دروغ گناه ده او گناه دَ جهنم طرف ته لار خودنه کوی۔

(۱۱۱)إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْأُمَّهَاتِ وَ وَأْدَ الْبَنَاتِ وَ مَنْعَ وَهَاتِ وَ كَرِهَ لَكُمْ قِيْلَ وَ قَالَ وَ كَثْرَةَ السُّؤَالِ وَ إِضَاعَةَ الْمَالِ ( بخاری و مسلم )

(۱۱۱) بیشکه الله تعالی په تاسو باندے دَ میندو نافرمانی، دَ ژوندو لونړو ښخول، بخل او سوال کول حرام کړے دی۔ او په تاسو کښے ئی فضول خبرے، زیات سوال کول او مال ضائع کول ناخوښه کړے دی۔

(۱۱۲)إِنَّ اَحَبَّ الْاَعْمَالِ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى اَلْحُبُّ فِی اللّٰهِ وَالْبُغْضُ فِی اللّٰهِ ( رواه احمد ابوداود )

(۱۱۲) بیشکه دَ ټولو عملونو نه الله ته زیات خوښ عمل دَ الله پاک دَ پاره

محبت کول او دَ الله پاک دَ پاره بغض کول دی۔

(۱۱۳)اَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُوْنَةٌ وَ مَلْعُوْنٌ مَا فِيْهَا إِلَّا ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ (ترمذی)

(۱۱۳)خبردار بیشکه دنیا باندے لعنت کړے شوے دے او په دے کښے چه څۀ دی په هغے هم، لیکن دَ الله ذکر او هغه څۀ چه دَ الله تعالی ذکر ته نزدے وی او علم لرونکے او علم زده کونکے۔

(۱۱۴)إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَ حَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَ نَشَرَهُ وَ وَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ أَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ أَوْ بَيْتًا لِإِبْنِ السَّبِيْلِ بَنَاهُ أَوْ نَهْرًا اَجْرَاهُ أَوْ صَدَقَةً اَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِيْ صِحَّتِهِ وَ حَيٰوتِهِ تَلْحَقُهُ بَعْدَ مَوْتِهِ (ابن ماجه)

(۱۱۴) بیشکه هغه څیزونه چه مؤمن ته دَ هغۀ دَ عمل او نیکو نه هغۀ ته دَ مرګ نه پس ملاویږی هغه علم دے چه زده ئی کړو خور ئی کړو او هغه نیک اولاد چه دۀ پریخودے وی یا دَ قرآن نسخه چه په میراث کښے ئی پریخودے وی یا جمات چه ئی جوړ کړے وی یا مسافرخانه چه ئی جوړه کړے وی یا نهر چه ئی جاری کړے وی یا داسے صدقه چه دَ خپل مال نه ئی په صحت او ژوند کښے ویستلے وی۔ دَ دے څیزونو ثواب به ورته دَ مرګ نه پس ملاویږی۔

(۱۱۵)إِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ (بخاری)

(۱۱۵) بیشکه الله تعالی دَ دے دین په یو بد عمله انسان هم تائید کوی۔

(۱۱۶)إِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ (ابو داود)

(۱۱٦)بیشکه دَ قیامت دَ نخښو نه یوه دا هم ده چه خلق به دَ جماتونو باره کښے فخر کوی۔

## إِنَّمَا

(۱۱۷)إِنَّمَا شِفَاءُ الْعَيِّ السُّؤَالُ . (رواه ابو داود)

(۱۱۷)دَ جهالت شفاء دَ تپوس نه علاوه بل څهٔ نشته۔

(۱۱۸)إِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ . (بخاری ومسلم)

(۱۱۸)سوا دَ دے نه بله نۀ ده چه دَ اعمالو دار ومدار دَ خاتمو په اعتبار دے۔

(۱۱۹)إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ اَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ (ترمذی)

(۱۱۹)یقینی خبره ده چه قبر دَ جنت دَ باغیچو نه یوه باغیچه ده یا دَ دوزخ دَ کندو نه یوه کنده ده۔

# اَلْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ

(۱۲۰) كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَّكُوْنَ كُفْرًا. (بیهقی)

(۱۲۰) نزدې ده چه غربت کفر شي۔

(۱۲۱) يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ (مسلم)

(۱۲۱) هر انسان به په هغه حالت کښې پورته کولے شي په کوم چه مړ شوے وي۔

(۱۲۲) كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ (مسلم)

(۱۲۲) دَ انسان دَ دروغژن کیدو دَ پاره دا کافي ده چه څۀ هم واؤري هغه بیانوي۔

(۱۲۳) يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنُ (مسلم)

(۱۲۳) شهید ته به دَ قرض نه علاوه هره ګناه بخښلے شي۔

(۱۲۴) لُعِنَ عَبْدُ الدِّيْنَارِ وَ لُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ (ترمذی)

(۱۲۴) لعنت کړے شوے دے دَ دینار په بنده او لعنت کړے شوے دے دَ درهم په بنده۔

(۱۲۵) حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَ حُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ (بخاری و مسلم)

(۱۲۵) اور په مزو کښې او جنت په تکلیفونو کښې پټ کړے شوے

دے۔

(۱۲۶)يَهْرَمُ ابْنُ ادَمَ وَ يَشُبُّ مِنْهُ اِثْنَانِ اَلْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمْرِ ( بخاری و مسلم)

(۱۲۶)بنیادم بوډا کیږی او دوه ځیزونه په کښے قوی کیږی، دَ مال حرص او دَ عمر حرص۔

(۱۲۷)نِعْمَ الرَّجُلُ الفَقِيْهُ فِي الدِّيْنِ إِنْ اُحْتِيْجَ اِلَيْهِ نَفَعَ وَ إِنْ اُسْتُغْنِيَ عَنْهُ اَغْنَى نَفْسَهٗ ( رزین)

(۱۲۷)په دین پو هه سړے ښهٔ سړے دے کهٔ ورته حاجت پیش کړے شی نو فائده رسوی او کهٔ بے پروائی ترے اوکړے شی نو ځان بے پرواه کړی۔

(۱۲۸)يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اِثْنَانِ وَ يَبْقٰى مَعَهٗ وَاحِدٌ يَتْبَعُهٗ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ وَ عَمَلُهٗ فَيَرْجِعُ اَهْلُهٗ وَ مَالُهٗ وَ يَبْقٰى عَمَلُهٗ ( بخاری ومسلم )

(۱۲۸)مړی پسے درے ځیزونو روستو ځی پس دوه واپس کیږی او یو ورسره باقی پاتے کیږی،اهل، مال او عمل ورسره ځی پس اهل او مال ترے واپس شی او عمل ورسره پاتے شی۔

(۱۲۹) كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيْثًا هُوَ لَكَ مُصَدِّقٌ وَ أَنْتَ بِهٖ كَاذِبٌ (رواه ابو داود )

(۱۲۹)لوے خيانت دا دے چه ته خپل رور ته څۀ خبره اوښائے داسے چه هغه تا په دے کښے رشتينے ګڼړی او ته ورته په دے کښے دروغژن ئے۔

(۱۳۰)بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ اِنْ اَرْخَصَ اللّٰهُ الْاَسْعَارَ حَزِنَ وَاِنْ اَغْلَاهَا فَرِحَ ( بيهقى )

(۱۳۰)ذخيره کونکے انسان خراب سړے دے که الله تعالى نرخونه کم کړی نو دے خفه شی او که ئی اوچت کړی نو خوشحاله شی۔

# نَوْعٌ اٰخَرُ مِنَ الْجُمْلَةِ الْفِعْلِيَّةِ

## وَهُوَ مَا فِىْ اَوَّلِهٖ لَا النَّافِيَة

(۱۳۱)لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّات(بخارى ومسلم)

(۱۳۱)جنت ته به چغلخور نۀ ځی۔

(۱۳۲)لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ (بخارى ومسلم )

(۱۳۲)جنت ته به تعلق پريخودونکے نۀ ځی۔

(۱۳۳)لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ .

( بخارى ومسلم)

(۱۳۳)مؤمن دَ يوے سوړے نه دوه ځله نۀ شی چيچلے۔

(۱۳۴)لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ .

( رواه مسلم )

(۱۳۴)جنت ته به هغه بنده نهٔ داخليږی دَ کوم دَ شرونو نه چه ګوانډی ته امن نهٔ وی۔

(۱۳۵)لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِىَ بِالْحَرَامِ ( بيهقى )

(۱۳۵)جنت ته به هغه بدن نهٔ داخليږی چه حرام خوراک ورکړے شوے وی۔

(۱۳۶)لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبْعًا لِّمَا جِئْتُ بِهٖ (رواه الدارمى )

(۱۳۶)په تاسو کښې تر هغې وخته پورې يو کس هم مؤمن کيدے نهٔ شی کومې پورې چه ئې خواهش دَ هغې څيز تابع شوے نهٔ وی کوم چه ما پيش کړے دے۔ (يعنی دين اسلام او صراط مستقيم يا سنت)

(۱۳۷)لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يُّرَوِّعَ مُسْلِمًا ( ابو داود )

(۱۳۷) دَ هيڅ يو مسلمان دَ پاره حلال نهٔ دی بل مسلمان اوېروی۔

(۱۳۸)لَا تَدْخُلُ الْمَلٰٓئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَّلَا تَصَاوِيْرُ (بخاری و مسلم )

(۱۳۸)فرشتې هغې کور ته نهٔ داخليږی کوم کور کښې چه سپے وی او نهٔ هغې ته چه په کښې تصويرونه وی۔

(۱۳۹)لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَ

وَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ( بخاری ومسلم )

(۱۳۹)په تاسو کښے یو کس هغے وخته پورے مؤمن کیدے نهٔ شی څو پورے چه ورته زهٔ دَ خپل والد نه او اولاد نه او تمامو خلقو نه زیات خوښ شوے نهٔ یم۔

(۱۴۰)لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلٰثٍ فَمَنْ هجرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ. ( رواه احمد و ابو داود )

(۱۴۰)هیڅ یو مسلمان له حلال نهٔ دی چه خپل رور سره دَ دریو ورځو نه زیات تعلق پریږدی پس چا چه دَ دریو ورځو نه زیات پریخودو او مړ شو اور ته به داخلیږی۔

(۱۴۱)لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ اِلَّا مِنْ شَقِيٍّ ( رواه احمد والترمذی )

(۱۴۱)رحمت نهٔ شی ویستلے لیکن دَ بدبخته نه۔

(۱۴۲)اَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ ( بیهقی)

(۱۴۲)خبردار دَ هیڅ یو بنده مال دَ هغهٔ دَ زړهٔ دَ خوشحالئ نه بغیر حلال نهٔ دے۔

(۱۴۳)لَا تَصْحَبُ الْمَلٰٓئِكَةُ رُفْقَةً فِيْهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ (مسلم )

(۱۴۳)فرشتے هغے ډلے سره ملګرتیا نهٔ کوی کومه کښے چه

سپے یا جرس وی۔

# صِيَغُ الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ

(۱۴۴) بَلِّغُوْا عَنِّیْ وَلَوْ اٰيَةً (بخاری)

(۱۴۴)اورسوئ زما نه اګر چه یو آیت وی۔

(۱۴۵)اَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ (ابو داود)

(۱۴۵)دَ خلقو عزت دَ هغوی دَ مرتبے په لحاظ کوئ۔

(۱۴۶)اِشْفَعُوْا فَلْتُؤْجَرُوْا (بخاری)

(۱۴۶)سفارش کوئ تاسو ته به اجر درکولے شی۔

(۱۴۷)قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ (مسلم)

(۱۴۷)تهٔ اووایه چه ما ایمان راؤړے دے په الله او بیا په دے قائم اوسیږه۔

(۱۴۸)دَعْ مَا يُرِيْبُكَ اِلٰی مَا لَا يُرِيْبُكَ (رواه احمد والترمذی)

(۱۴۸)پریږده هغه څیز چه تا په شک کښے اچوی (او مائل شه هغے څیز ته چه تا په شک کښے نهٔ اچوی۔

(۱۴۹)اِتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُ مَا كُنْتَ ، وَاَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا (احمد و ترمذی)

(۱۴۹)دَ الله نه یره کوه هر ځائے چه ئے، بدئ پسے نیکی کوه ختموی به ئی۔

(۱۵۰) وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ (ترمذی)

(۱۵۰) او خلقو سره د ښکلي اخلاقو معامله کوه.

(۱۵۱) لَا تُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ (ترمذی)

(۱۵۱) صرف مؤمن سره ملګرتیا کوه او صرف پرهیز ګار دِ ستا خوراک اوکړی.

(۱۵۲) اَدِّ الْاَمَانَةَ اِلٰی مَنِ ائْتَمَنَكَ ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ (ترمذی)

(۱۵۲) امانت هغه چا ته ادا کړه چه تهٔ ئی امین ګنړلے ئے او هغه چا سره خیانت مهٔ کوه چه تا سره ئی خیانت کړے وی.

(۱۵۳) لِيُؤَذِّنَ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّائُكُمْ (ابو داود)

(۱۵۳) په تاسو کښې بهتر دِ تاسو له اذان اوکړی او ستاسو قاریان دِ ستاسو امامت اوکړی. (د حضور ﷺ د زمانے قاری به کم نه کم د مانځهٔ په مسئلو عالم وو. او قراءت به ئی هم باتجوید وو پس د تمامو صفاتو لحاظ انتهائی ضروری دے. یعنی عالم له تجوید او قاری له د مونځ د تمامو مسئلو علم د امامت د پاره پکار دے).

(۱۵۴) لَا تَاْذَنُوْا لِمَنْ لَّمْ يَبْدَاْ بِالسَّلَامِ (بیهقی)

(۱۵۴) هغے سړی ته اجازت مهٔ کوئ چه په اسلام ابتداء اونکړی.

(۱۵۵)لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُوْرُ الْمُسْلِمِ ( ابو داود )

(۱۵۵)سپین ویښته مهٔ اوباسئ ځکه چه دا د مسلمان نور دے۔

(۱۵۶)اِزْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبُّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيْمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ. ( رواه الترمذی و ابن ماجه )

(۱۵۶)دنیا نه مخ واړوه الله به درسره محبت کوی او خلقو سره چه څهٔ دی هغے نه مخ واړوه خلق به درسره محبت کوی۔

(۱۵۷)كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيْبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ (رواه البخاری)

(۱۵۷)دنیا کښے داسے شه لکه مسافر یا لاروے۔

(۱۵۸)اُعْطُوا الْاَجِيْرَ اَجْرَهُ قَبْلَ اَنْ يَّجِفَّ عِرْقُهُ ( ابن ماجه )

(۱۵۸)مزدور ته د خولے اوچیدو نه وړاندے مزدوری ورکوئ۔

(۱۵۹)بَشِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا وَ يَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا (بخاری و مسلم)

(۱۵۹)زیرے ورکوئ، نفرت مهٔ پیدا کوئ، آسانی پیدا کوئ او مهٔ ګرانوئ۔

(۱۶۰)لَا تَسُبُّوا الدِّيْكَ فَإِنَّهُ يُوْقِظُ لِلصَّلٰوةِ ( رواه ابوداود )

(۱۶۰)چرګ ته کنځل مهٔ کوئ ځکه چه دے خو مانځهٔ له بیداروونکے دے۔

(۱۶۱)لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوْا فِي الدُّنْيَا ( ترمذی )

(۱۶۱)جائیدا د مهٔ اخلئ ګنے دنیا سره به مو مینه پیدا شی۔

(۱۶۲)خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ أَوْفِرُوا اللُّحَى وَاحْفُوا الشَّوَارِبَ.

(بخاری ومسلم)

(۱۶۲)دَ مشرکانو مخالفت کوئ ګیرے اوګدے کړئ او بریت ښۀ پریکړئ۔

(۱۶۳)اَطْعِمُوا الْجَائِعَ وَ عُودُوا الْمَرِيْضَ وَ فُكُّوا الْعَانِىَ (بخاری)

(۱۶۳)اوږی ته خوراک ورکوئ، دَ مریضانو پوښتنه کوئ او قیدی خلاصوئ۔

(۱۶۴)لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَ هُوَ غَضْبَانٌ (بخاری ومسلم)

(۱۶۴)په تاسو کښے یو حاکم دِ دَ دوو کسو فیصله نۀ کوی چه کله غصه وی۔

(۱۶۵)اِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَاِنَّ عِبَادَ اللّٰهِ لَيْسُوْا بِالْمُتَنَعِّمِيْنَ (رواه احمد)

(۱۶۵)ځان بچ کړه دَ آرام طلبئ (ناز) نه ځکه چه دَ الله تعالی بندګان آرام طلب (نازولی) نۀ وی۔

(۱۶۶)لَا تَسُبُّوا الْاَمْوَاتَ فَاِنَّهُمْ قَدْ اَفْضَوْا اِلَى مَا قَدَّمُوْا (بخاری)

(۱۶۶)مړو ته کنځل مۀ کوئ ځکه چه هغوی ځۀ ته رسیدلے دی کوم ځۀ چه ئی وړاندے لیږلے دی۔

(۱۶۷)تَعَاهَدُوا الْقُرْاٰنَ فَوَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَهُوَ اَشَدُّ تَفَصِّيًا مِّنَ الْاِبِلِ فِىْ عُقُلِهَا (بخاری ومسلم)

(۱٦۷) دَ قرآن پاک خبر ګیری کوئ، زما دِ قسم په هغے ذات چه په قبضه کښے ئی زما ساه ده دا قرآن زیات زر وتونکے دے (دَ سینو نه) په نسبت دَ اوښانو دَ رسیو نه۔

(۱٦۸) اِعْتَدِلُوْا فِی السُّجُوْدِ وَلَا یَبْسُطْ اَحَدُکُمْ ذِرَاعَیْهِ اِنْبِسَاطَ الْکَلْبِ (بخاری و مسلم)

(۱٦۸) په سجده کښے اعتدال کوئ او په تاسو کښے یو کس دِ دَ سپی په شان څنګلے نهٔ خوروی۔

(۱٦۹) مُرُوْا اَوْلَادَکُمْ بِالصَّلٰوةِ وَ هُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِیْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَیْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِیْنَ وَ فَرِّقُوْا بَیْنَهُمْ فِی الْمَضَاجِعِ (ابو داود)

(۱٦۹) خپل اولاد ته دَ مونځ حکم کوئ کله چه دَ اوو کالو شی او په مونځ نهٔ کولو ئی وهئ کله چه دَ لسو کالو شی او دَ ملاستے ځایونه ورله جدا کړئ۔

(۱۷۰) لَا تَجْلِسُوْا عَلَی الْقُبُوْرِ وَلَا تُصَلُّوْا اِلَیْهَا (رواه مسلم)

(۱۷۰) په قبرونو مهٔ کینئ او ورته مونځ مهٔ کوئ۔

(۱۷۱) اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهٗ لَیْسَ بَیْنَهَا وَ بَیْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ (بخاری و مسلم)

(۱۷۱) دَ مظلوم دَ خیرو نه ځان بچ کړه بس بیشکه شان دَ خبرے داسے دے

چه دَ دے او دَ الله تعالی په مینځ کښے څۀ پرده نشته۔

(۱۷۲)اِتَّقُوا اللّٰهَ فِیْ هٰذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْکَبُوْهَا صَالِحَةً وَاتْرُکُوْهَا صَالِحَةً (ابوداود)

(۱۷۲)دَ دے بے زبانه څناورو په حق کښے دَ الله تعالی نه یره اوکړئ پس تاسو په دوی سورلی کوئ په داسے حال کښے چه جوړ وی او پرېږدئ ئی چه جوړ وی۔

(۱۷۳)لَا یَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَ لَا تُسَافِرَنَّ اِمْرَأَةٌ اِلَّا وَ مَعَهَا مَحْرَمٌ (بخاری و مسلم)

(۱۷۳)بالکل دِ یو سړے ښځے سره نۀ ځانله کیږی او ښځه دِ بالکل سفر نۀ کوی مګر دا چه څوک محرم (داسے بنده چه شریعت کښے ئی ترے پرده نۀ وی)ورسره وی۔

(۱۷۴)لَا تَتَّخِذُوْا ظُهُوْرَ دَوَابِکُمْ مَنَابِرَ (ابوداود)

(۱۷۴)دَ خپلو ځاروُو دَ شاګانو نه منبرونه مۀ جوړوئ۔

(۱۷۵)لَا تَتَّخِذُوْا شَیْئًا فِیْهِ الرُّوْحُ غَرَضًا (مسلم)

(۱۷۵)داسے یو څیز مۀ نخښه کوئ چه په کښے روح وی۔

(۱۷٦)لَا تَجْلِسْ بَیْنَ رَجُلَیْنِ اِلَّا بِاِذْنِهِمَا (ابوداود)

(۱۷٦)دَ دوُو سړو مینځ کښے دَهغوی دَ اجازت نه بغیر مۀ کینه۔

(۱۷۷) لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِاَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللّٰهُ وَ يَبْتَلِيكَ (ترمذی)

(۱۷۷) دَ خپل رور په تکلیف باندې خوشحالي مهٔ کوه ګنې په هغهٔ به الله تعالی رحم اوکړي او تا به په کښې مبتلا کښې کړي.

(۱۷۸) بَادِرُوا بِالصَّدَقَةِ فَاِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا (رزین)

(۱۷۸) صدقه کولو کښې جلتي اوکړئ بیشکه مصیبت دَ صدقې نه وړاندې نهٔ شي تللې.

(۱۷۹) اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ (بخاری)

(۱۷۹) دَ اور نه ځان بچ کړئ اګر کهٔ دَ کهجورې په یوه ټکړه وي پس چا چه بیا نهٔ موندله نو په ښکلې خبره (دِ دا مقصد حاصل کړي).

(۱۸۰) جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِاَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ وَ اَلْسِنَتِكُمْ (ابوداود)

(۱۸۰) مشرکانو سره په خپلو مالونو، ځانونو او ژبو جهاد اوکړئ.

(۱۸۱) اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَ صِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ وَ غِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَ فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَ حَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (رواه الترمذی مرسلا)

(۱۸۱) پنځهٔ وړاندې دَ پنځو نه غنیمت اوګڼره. خپله ځواني دَ بوډا والي نه

وړاندے، خپل صحت دَ مرض نه وړاندے، خپله مالداری دَ فقیرئ نه وړاندے، خپل فراغت دَ مشغولتیا نه وړاندے او خپل ژوند دَ مرګ نه وړاندے۔

# لَيسَ النَّاقِصَةُ

(۱۸۲) لَيسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِیْ يَملِکُ نَفسَهُ عِندَ الغَضَبِ (بخاری و مسلم)

(۱۸۲) راغورځونکے پهلوان نهٔ دے بلکه پهلوان هغه کس دے چه دَ غصے په وخت کښے دَ خپل نفس مالک وی۔

(۱۸۳) لَيسَ مِنَّا مَن خَبَّبَ امرَأَةً عَلَى زَوجِهَا اَو عَبدًا عَلٰى سَيِّدِهٖ (ابو داود)

(۱۸۳) زمونږ دَ ډلے نه هغه بنده نهٔ دے چه یوے ښځے ته دَ خپل خاوند په حق کښے یا یو غلام ته دَ خپل سید په حق کښے دوکه ورکړی۔ (مثلاً دا ستا خاوند خو هیڅ کښے هم نهٔ دے دَ هغے فلانکئ خاوند ته اوګوره دا کوی دا کوی وغیره)

(۱۸۴) لَيسَ مِنَّا مَن لَّم يَرحَم صَغِيرَنَا وَ لَم يُوَقِّر كَبِيرَنَا وَ يَأمُر بِالمَعرُوفِ وَ يَنهَ عَنِ المُنكَرِ. (ترمذی)

(۱۸۴) هغه سړے زمونږ دَ ډلے نه نهٔ دے چه زمونږ په وړو رحم نهٔ کوی او زمونږ دَ مشرانو قدر نهٔ کوی، امر بالمعروف (دَ ښهٔ خبرے یا کار حکم) نهٔ

کوی او نهی عن المنکر( دَ بدے خبرے یا بد کار نه منع) نۀ کوی۔

(۱۸۵)لَیْسَ الْـمُـؤْمِنُ بِالَّذِیْ یَشْبَعُ وَ جَارُهٗ جَائِعٌ اِلٰی جَنْبِهٖ (رواه البیهقی)

(۱۸۵)هغـه بنـده مـؤمـن نـۀ دے چـه پـه مړه خیټه خوراک اوکړی او اړخ کښے ورسره ګوانډی اوږے وی۔

(۱۸٦)لَیْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُکَافِیْءُ وَ لٰکِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِیْ اِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهٗ وَصَلَهَا. ( رواه البخاری )

(۱۸٦)بـدلـه خـلاصـونـکے صـلـه رحمی (رشته داری پالل) کـونـکے نۀ دے بلـکـه صـلـه رحمی کونکے هغه بنده دے چه کله دۀ سره رشته قطع کړے شی نو دے ئی بیا هم یو ځائے کوی۔

(۱۸۷)لَیْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَ لَا بِاللَّعَّانِ وَ لَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِیِّ (رواه الترمذی )

(۱۸۷)مـؤمـن طـعنه زن نۀ وی نۀ لعنت کونکے ، نۀ بے حیائی کـونکے او نۀ بے کاره خبرے کـونکے وی۔

(۱۸۸)لَیْسَ الْغِنٰی عَنْ کَثْرَةِ الْعَرَضِ وَ لٰکِنَّ الْغِنٰی غِنَی النَّفْسِ ( رواه البخاری و مسلم )

(۱۸۸) مـالـداری دَ سـامـان پـه زیـاتـوالـی سـره نـۀ ده بلکه مالداری دَ نفس

مالداري ده۔ (مالداری دَ زیاتِ سامان نوم نهٔ دے بلکه دَ نفس بے پروائی مالداری ده)

(۱۸۹) لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِىْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَ يَقُوْلُ خَيْرًا وَ يَنْمِىْ خَيْرًا ( رواه البخاری و مسلم )

(۱۸۹) هغه بنده دروغژن نهٔ دے چه دَ خلقو په مینځ کښے صلح کوی ښهٔ خبره کوی او دَ ښهٔ خبرے نسبت کوی۔

(۱۹۰) لَيْسَ شَىْءٌ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ مِنَ الدُّعَاءِ ( رواه الترمذی )

(۱۹۰) دَ الله تعالی په نزد دَ دعاء نه زیات عزت والا څیز نشته۔

(۱۹۱) لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَ شَقَّ الْجُيُوْبَ وَ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ. ( رواه البخاری و مسلم )

(۱۹۱) زمونږ دَ ډلے نه نهٔ دے هغه کس چه مخ وهی او ګریوان شلوی او دَ جاهلیت آواز کوی۔

(۱۹۲) لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ

(رواه احمد )

(۱۹۲) خبر دَ مشاهدے په شان نهٔ وی۔

## اَلشَّرْطُ وَالْجَزَاءُ

(۱۹۳) مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَ مَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ (رواه البیهقی )

(۱۹۳)چا چه دَ الله تعالی دَ پاره عاجزی اوکړه الله پاک به ئی اوچت کړی او چا چه تکبر اوکړو الله تعالی به ئی ذلیل کړی۔

(۱۹۴)مَنْ لَّمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ (اخرجه احمد والترمذی)

(۱۹۴)چا چه دَ خلقو شکریه ادا نهٔ کړه هغهٔ دَ الله تعالی شکریه ادا نهٔ کړه۔

(۱۹۵)مَنْ لَّمْ يَسْئَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ (ترمذی)

(۱۹۵)څوک چه دَ الله تعالی نه سوال نهٔ کوی نو هغهٔ ته الله تعالی غصه کیږی۔

(۱۹۶)مَنْ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا. (رواه الترمذی)

(۱۹۶) چا چه یوه ډاکه اوکړه نو هغه زمونږ دَ ډلے نه نهٔ دے۔

(۱۹۷)مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهٖ (مسلم)

(۱۹۷)چا چه دَ نیکئ دلالت اوکړو نو هغهٔ دَ پاره دَ کونکی برابر اجر دے۔

(۱۹۸)مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السَّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا (بخاری)

(۱۹۸)چا چه مونږ باندے وسله اوچته کړه نو هغه زمونږ دَ ډلے نه نهٔ دے۔

(۱۹۹)مَنْ صَمَتَ نَجَا. (رواه احمد و ترمذی)

(۱۹۹)څوک چه خاموش شو خلاصے ئی تر لاسه کړو۔

(۲۰۰)وَ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ (رواه ابو داود)

(۲۰۰)څوک چه دَ یو قوم سره مشابه شو نو هم دَ هغوی نه دے۔

(۲۰۱) مَنْ يُحْرَمُ الرِّفْقَ يُحْرَمُ الْخَيْرَ . ( رواه مسلم )

(۲۰۱) څوک چه دَ نرمئ نه محروم شو هغه دَ خیر نه محروم شو۔

(۲۰۲) مَنْ اَرَادَ الْحَجَّ فَلْيُعَجِّلْ ( رواه ابو داود )

(۲۰۲) څوک چه دَ حج اراده کوی نو جلتی دِ کوی۔

(۲۰۳) مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا ( رواه مسلم )

(۲۰۳) چا چه مونږ ته دوکه راکړه هغه زمونږ دَ ډلے نه نهٔ دے۔

(۲۰۴) مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَقَدْ غَزَا وَ مَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِيْ أَهْلِهٖ فَقَدْ غَزَا ( رواه البخاری و مسلم )

(۲۰۴) چا چه سامان ورکړو دَ الله په لار کښے جنګ کونکی ته نو دهٔ غزا اوکړه او څوک چه دَ غازی په اهل کښے خلیفه(پالونکی دَ اهل وعیال) شو نو دهٔ هم غزا اوکړه۔

(۲۰۵) مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا وَ مَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ وَ مَنْ اَتَى السُّلْطَانَ اِفْتَتَنَ ( رواه احمد و الترمذی )

(۲۰۵) څوک چه بانډه کښے اوسیږی نو زړهٔ ئی سختیږی او څوک چه ښکار پسے کیږی نو غافل کیږی او څوک چه بادشاه ته راځی نو په فتنه کښے مبتلا کیږی۔

(۲۰۶) مَنْ صَلّٰى يُرَائِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ وَ مَنْ صَامَ يُرَائِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ وَ مَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِيْ فَقَدْ اَشْرَكَ ( احمد )

(۱۹۸)چا چه خودنے دَ پاره مونځ اوکړو نو شرک ئی اوکړو او چا چه خودنے دَ پاره روژه اونیوله نو شرک ئی اوکړو او چا چه دَ خودنے دَ پاره صدقه اوکړه نو شرک ئی اوکړو۔

(۲۰۷)مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّیْ (بخاری)

(۲۰۷)چا چه زما دَ سنتو نه مخ واړولو هغه زما دَ ډلے نه نهٔ دے۔

(۲۰۸)مَنْ عَزّٰی ثَکْلٰی کُسِیَ بُرْدًا فِی الْجَنَّةِ (ترمذی)

(۲۰۸)چا چه بُورے ښځے ته تسلی ورکړه نو دهٔ ته به په جنت کښے یو څادر واغوستلے شی۔

(۲۰۹)مَنْ قَتَلَ مُعَاهِدًا لَمْ یَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ (بخاری)

(۲۰۹)چا چه ذِمی(دَ اسلامی حکومت په اجازت باندے دَ مسلمانانو په ملک کښے اوسیدونکے کافر) قتل کړو نو دے به دَ جنت بوئی هم نهٔ محسوسوی۔

(۲۱۰)مَنْ یُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَیْرًا یُّفَقِّهْهُ فِی الدِّیْنِ (بخاری)

(۲۱۰)چا ته چه الله پاک دَ خیر اراده اوکړی نو هغهٔ ته په دین کښے پوهه ورکړی۔

(۲۱۱) مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرًا (مسلم)

(۲۱۱)چا چه په ما باندے یو ځل درود اولوستلو الله پاک به په هغهٔ باندے لس رحمتونه نازل کړی۔

(۲۱۲)مَنْ بَنٰی لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ (رواه البخاری ومسلم)

۲۱۲) چا چه دَ الله تعالی دَ پاره جمات جوړ کړو نو الله تعالی به ورله په جنت کښې کور جوړ کړی۔

(۲۱۳)مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ (رواه الترمذی)

(۲۱۳) چا سره چه احسان اوشو او هغهٔ احسان کونکی ته اووئیل: چه الله تعالی دِ تا ته ښهٔ بدله درکړی" نو دهٔ په تعریف کولو کښې مبالغه اوکړه۔

(۲۱۴)مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانٌ مِنْ نَارٍ (دارمی)

(۲۱۴) څوک چه په دنیا کښې دوه فرىقه وی دَ دهٔ به دَ قیامت په ورځ دَ اور یوه ژبه وی۔

(۲۱۵)مَنْ رَاٰى عَوْرَةً فَسَتَرَهَا كَانَ كَمَنْ اَحْيٰى مَوْءُوْدَةً (ترمذی)

(۲۱۵) چا چه یو عیب اولیدو او پټ ئی کړو دے دَ هغے بنده په شان شو چه ژوندئ ښخه کړے شوے جینئ ئی دَ مرګ نه بچ کړه۔ (واپس ئی را اوویستله)۔

(۲۱۶)مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ وَ مَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللّٰهُ

غَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ مَنْ اِعْتَذَرَ إِلَى اللّٰهِ قَبِلَ اللّٰهُ عُذْرَهُ (رواه البیهقی)

(۲۱۶) چا چه دَ خپلے ژبے حفاظت اوکړو نو الله تعالی به ئی عیبونه پټ کړی او چا چه خپله غصه بنده کړه الله تعالی به تر ے دَ قیامت په ورځ خپل عذاب بند کړی او چا چه الله پاک ته عذر پیش کړو الله تعالی به ئی عذر قبول کړی۔

(۲۱۷) مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ اُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَّارٍ (رواه احمد والترمذی)

(۲۱۷) دَ چا نه چه دَ علم متعلق پوښتنه اوشوه بیا هغهٔ هغه (علم) پټ کړو نو دَ قیامت په ورځ به ورته دَ اور واړی په خلهٔ کښے اچولے شی۔

(۲۱۸) وَ مَنْ اَشَارَ عَلٰی اَخِيْهِ بِاَمْرٍ يَعْلَمُ اَنَّ الرُّشْدَ فِيْ غَيْرِهٖ فَقَدْ خَانَهٗ (رواه ابوداود)

(۲۱۸) او چا چه خپل رور ته دَ یو داسے کار مشوره ورکړه چه دهٔ ته پته وه چه دَ دهٔ خیر په بل کار کښے دے نو دهٔ .ورسره خیانت اوکړو۔

(۲۱۹) مَنْ تَحَلّٰى بِمَا لَمْ يُعْطَ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ (ترمذی)

(۲۱۹) چا چه په هغه څیز ځان ښائسته کړو چه دهٔ ته نهٔ دِ ورکړے شوے نو دے داسے دے لکه چه دَ دروغو دوه جامے ئی اغوستلے وی۔

(۲۲۰) مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِيْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ

شَهِيْدٍ (رواه البيهقی)

(۲۲۰) چا چه زما ذ امت ذ فساد په وخت کښې زما په سنتو باندې عمل اوکړو نو دهٔ ذ پاره ذ سلو شهیدانو ثواب دے۔

(۲۲۱) مَنْ شَهِدَ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ (رواه مسلم).

(۲۲۱) چا چه ګواهي اوکړه چه ذ الله تعالی نه سوا بل هیڅوک معبود نشته او محمد ﷺ ذ الله تعالی رسول دے نو الله تعالی به په دهٔ باندې اور حرام کړی۔

(۲۲۲) مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ اِثْمُهُ عَلَى مَنْ اَفْتَاهُ (رواه ابوداود)

(۲۲۲) چا ته چه بے ذ علم نه فتویٰ ورکړے شوه نو ذ هغے ګناه په هغه چا ده چه فتویٰ ئې ورکړے ده۔

(۲۲۳) مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْاِسْلَامِ.

(رواه البیهقی مرسلا عن ابراهیم بن میسرة)

(۲۲۳) چا چه ذ بدعتی تعظیم اوکړو نو دهٔ ذ اسلام په نړولو (ړنګولو) کښې مدد اوکړو۔

(۲۲۴) مَنْ اَحْدَثَ فِيْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ. (رواه البخاری ومسلم)

(۲۲۴) چا چه زمونږ په دے معامله کښې داسے خبره را اوویستله چه دے کښې نهٔ وه نو هغه رد ده۔

(۲۲۵)مَنْ يَّضْمَنْ لِيْ مَا بَيْنَ لِحْيَيْهِ وَ مَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ اَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ (رواه البخاری)

(۲۲۵)څوک چه ما ته دَ حفاظت: مه داری واخلی دَ هغه څيز چه دَ دوؤ ژامنو په مينځ کښې دے (ژبه) او دَ هغه څيز چه دَ دوؤ پتونانو په مينځ کښې دے (شرمگاه) نو زهٔ دَ دهٔ دَ پاره دَ جنت ذمه داريم.

(۲۲۶)مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَ اَبْغَضَ لِلّٰهِ و اَعْطَى لِلّٰهِ و مَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدْ اِسْتَكْمَلَ الْاِيْمَانَ (رواه ابو داود)

(۲۲۶)چا چه دَ الله تعالی دَ پاره محبت اوکړو او دَ الله تعالی دَ پاره بغض اوکړو او دَ الله پاره ئی ورکړه اوکړه او دَ الله تعالی دَ پاره ئی منع اوکړه نو دهٔ ايمان کامل کړو.

(۲۲۷)مَنْ اَنْظَرَ مُعْسِرًا اَوْ وَضَعَ عَنْهُ اَظَلَّهُ اللّٰهُ فِیْ ظِلِّهٖ (رواه مسلم)

(۲۲۷)چا تنګ دست ته مهلت ورکړو يا ئی ورته څهٔ (قرض) کم کړو نو الله تعالی به هغهٔ ته خپل سوری کښې ځائے ورکړی.

(۲۲۸)مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ (رواه البخاری)

(۲۲۸)چا چه په ما باندے قصدا دروغ اووئيل نو دے دِ ځان له په اور کښې ځائے ذا... ... تيار کړی.

(۲۲۹) مَنْ خَرَجَ فِیْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ حَتّٰی یَرْجِعَ

(رواه الترمذی)

(۲۲۹) څوک چه دَ علم په طلب کښې اووتلو هغه دَ الله تعالی په لار کښې

دے تر دے چه واپس شی۔

(۲۳۰) مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِیْنَ مُحْتَسِبًا کُتِبَ لَهٗ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّار

(رواه الترمذی)

(۲۳۰) چا چه اوۀ کاله دَ ثواب په نیت باندے اذان اوکړو نو دهٔ دَ پاره به دَ

جهنم دَ اور نه بری کیدل اولیکلے شی۔

(۲۳۱) مَنْ مَاتَ وَلَمْ یَغْزُ وَ لَمْ یُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَهٗ مَاتَ عَلٰی شُعْبَةٍ مِنْ

نِّفَاقٍ (رواه مسلم)

(۲۳۲) څوک چه مړ شو، نهٔ ئی جهاد اوکړو او نهٔ ئی په زړهٔ کښې دَ جهاد

خیال پیدا شوے وو نو دے دَ منافقت په یوه لویه شعبه کښې مړ شو۔

(۲۳۲) مَنْ تَرَکَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَیْرِ ضَرُوْرَةٍ کُتِبَ مُنَافِقًا فِیْ کِتَاب

لَا یُمْحٰی وَ لَا یُبَدَّلُ (رواه الشافعی)

(۲۳۱) چا چه بغیر ضرورت جمعه پریخودله نو .. به په داسے کتاب کښې

منافق اولیکلے شی چه هغه نهٔ ورانیږی او نهٔ بدلیږی۔

(۲۳۳) مَنْ لَّمْ یَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهٖ فَلَیْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِیْ اَنْ

یَدَعَ طَعَامَهٗ وَ شَرَابَهٗ (بخاری)

(۲۳۳) چا چه دروغ خبره او په هغې باندې عمل پرې نخودلو نو دَ الله تعالی هيڅ حاجت نشته دې ته چه دې خوراک او څکاک پريږدي۔

(۲۳۴) مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِي الدُّنْيَا اَلْبَسَهُ اللّٰهُ ثَوْبَ مُذِلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ( رواه احمد وغيره )

(۲۳۴) چا چه په دنيا کښې دَ شهرت جامې واچولې الله تعالی به ورته دَ قيامت په ورځ دَ ذلت جامې واچوی۔

(۲۳۵) مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ اَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوْهَ النَّاسِ إِلَيْهِ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ النَّارَ ( رواه الترمذى )

(۲۳۵) چا چه علم دَ دې دَ پاره حاصل کړو چه عالمانو سره په دې باندې مقابله اوکړی يا بے وقوفو سره به په دې باندې بحث اوکړی يا دَ دې په وجه دَ خلقو مخونه ځان ته اوګرځوی الله تعالی به ئې اور ته داخل کړی۔

(۲۳۶) مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغٰى بِهٖ وَجْهَ اللّٰهِ لَا يَتَعَلَّمُهٗ إِلَّا لِيُصِيْبَ بِهٖ عَرَضًا مِّنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ (رواه ابوداود)

(۲۳۶) چا چه دَ هغې علمونو نه په کومو چه دَ الله تعالی رضا طلب کولې شی يو علم زده کړو، دې ئې نۀ زده کوی مګر دې دَ پاره چه دَ دنيا څۀ حصه په دې حاصله کړی نو دَ جنت بوئی به هم محسوس نکړی۔

(۲۳۷) مَنْ اَتٰى عَرَّافًا فَسَئَلَهٗ عَنْ شَیْءٍ لَمْ يُقْبَلْ لَهٗ صَلٰوةُ اَرْبَعِيْنَ

لَیْلَةً (رواه مسلم)

(۲۳۷)څوک چه نجومی ته راغلو او د هغهٔ نه ئی د څهٔ څیز په باره کښے پوښتنه اوکړه نو د دهٔ به څلویښت ورځے مونځ نهٔ قبلیږی.

(۲۳۸)مَنْ اِسْتَعَاذَ مِنْکُمْ بِاللّٰهِ فَاَعِیْذُوْهُ وَ مَنْ سَأَلَ بِاللّٰهِ فَاَعْطُوْهُ وَ مَنْ دَعَاهُ فَاَجِیْبُوْهُ وَ مَنْ صَنَعَ اِلَیْکُمْ مَعْرُوْفًا فَکَافِئُوْهُ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مَا تُکَافِئُوْهُ فَادْعُوْا لَهٗ حَتّٰی تَرَوْا اَنْ قَدْ کَافَئْتُمُوْهُ (رواه احمد)

(۲۳۸)څوک چه تاسو نه دَ الله په واسطه پناه اوغواړی نو هغهٔ ته پناه ورکړئ. او کهٔ تاسو نه څوک دَ الله په واسطه سوال اوکړی نو هغهٔ ته ورکړئ. او څوک چه تاسو ته دعوت درکړی نو قبول ئی کړئ. او څوک چه تاسو سره نیکی اوکړی نو تاسو ئی بدله ورکړئ کهٔ چرته تاسو هغه څیز بیا نهٔ مومئ چه دَ هغے بدله ورکړئ نو تاسو هغهٔ دَ پاره دعا کوئ تر دے چه تاسو پوهه شئ چه دَ هغهٔ بدله تاسو ورکړه.

(۲۳۹)مَنْ رَاٰی مِنْکُمْ مُنْکَرًا فَلْیُغَیِّرْهُ بِیَدِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَ ذٰلِکَ اَضْعَفُ الْاِیْمَانِ (رواه مسلم)

(۲۳۹)په تاسو کښے چه کوم فرد یو بدی اولیدله نو هغه دِ په لاس بدله کړی کهٔ طاقت نهٔ لری نو په ژبه دِ بدله کړی او کهٔ طاقت نهٔ لری نو په خپل زړهٔ سره دِ بدله کړی (یعنی اراده دَ بدلولو دِ اوکړی) او دا کمزورے ایمان دے.

(۲۴۰)مَنْ اَخَذَ اَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيْدُ اَدَاءَ هَا أَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ وَ مَنْ اَخَذَ يُرِيْدُ اِتْلَافَهَا اَتْلَفَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ .( رواه البخارى )

(۲۴۰)کوم کس چه دَ خلقو مالونه په دے نیت واخستل چه بیا به ئی ادا کوی نو الله تعالی به ئی دَ دهٔ دَ طرف نه ادا کړی او چا چه په دے نیت واخستل چه هلاک ئی کړی نو الله تعالی به ئی په دهٔ باندے هلاک کړی۔

(۲۴۱) مَنْ اَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَ لَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلُّهُ وَ إِنْ صَامَهُ. ( رواه احمد )

(۲۴۱)چا چه دَ رمضان یو ه روژه بغیر دَ رخصت او مرض نه او نهٔ ساتله نو تمام عمر روژه به ئی قضائی (دَ ثواب په اعتبار) نهٔ شی اګر کهٔ وے نیسی۔

(۲۴۲)مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا اَو جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهُ مِثْلُ اَجْرِهِ ( رواه البيهقى)

(۲۴۲)چا چه یو روژه دار ته روژه ماتے ورکړو یا ئی غازی ته سامان جنګ ورکړو نو دَ دهٔ دَ پاره دَ هغهٔ برابر اجر دے۔

(۲۴۳)مَنْ اَطَاعَنِىْ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَ مَنْ عَصَانِىْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَ مَنْ يُّطِعِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ اَطَاعَنِىْ وَ مَنْ يَّعْصِ الْاَمِيْرَ فَقَدْ عَصَانِىْ ( رواه البخارى و مسلم )

(۲۴۳)چا چه زما اطاعت اوکړو هغهٔ دَ الله تعالی اطاعت اوکړو، او چا چه زما نافرمانی اوکړه هغهٔ دَ الله تعالی نافرمانی اوکړه او چا چه دَ امیر اطاعت

اوکړو هغۀ زما اطاعت اوکړو او چا چه دَ امیر نافرمانی اوکړه هغه زما

نافرمانی اوکړه۔

(۲۴۴)مَنْ اَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهٖ خُسِفَ بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

اِلٰى سَبْعِ اَرْضِيْنَ ( بخاری )

(۲۴۴)چا چه دَ زمکے څۀ حصه په ناحقه واخستله نو دے به دَ قیامت په

ورځ په هغے کښے اومے زمکے پورے ښخولے شی۔

(۲۴۵)مَنْ رَاٰنِىْ فِى الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِىْ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ لَايَتَمَثَّلُ فِىْ

صُوْرَتِىْ ( رواه البخاری و مسلم )

(۲۴۵)چا چه زۀ په خوب کښے اولیدم نو په حقیقت کښے ئی اولیدلم

ځکه چه شیطان زما په شکل کښے نۀ شی راتلے۔

(۲۴۶)مَنْ اِدَّعٰى مَا لَيْسَ لَهٗ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ.

( رواه مسلم )

(۲۴۶)چا چه دعوىٰ دَ هغے څیز اوکړه چه دَ دۀ نۀ وی نو دے زمونږ دَ ډلے

نه نۀ دے او ځان له دِ په اور کښے دَ استوګنے ځائے جوړ کړی۔

(۲۴۷)مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ

وَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَ مَنْ

قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ اِيْمَانًا وَ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ ( رواه

البخاری و مسلم)

(۲۴۷) چا چه دَ رمضان روژے ایمان سره دَ ثواب په نیت باندے اونیولے نو دهٔ به وړاندے شوے ټول ګناهونه معاف شی او څوک چه په رمضان کښے ایمان سره دَ ثواب په نیت مونځ دَ پاره اودریدلو نو دهٔ به وړاندے شوے ټول ګناهونه معاف شی او څوک چه په شب قدر کښے ایمان سره او د ثواب په نیت مونځ دَ پاره اودریدلو نو دَ دهٔ وړاندے شوے تمام ګناهونه به معاف شی۔

(۲۴۸) مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَاِنَّ الْمَلٰٓئِكَةَ تَتَاَذّٰى مِمَّا يَتَاَذّٰى مِنْهُ الْاِنْسُ (رواه البخاری و مسلم)

(۲۴۸) چا چه دَ دے (پیاز، اوږه وغیره) بدبودار بوټی نه خوراک اوکړو نو زمونږ جمات ته دِ نهٔ رانزدے کیږی ځکه چه فرشتو ته په هغه څهٔ تکلیف رسی په کوم چه څهٔ چه انسانانو ته تکلیف رسی۔

(۲۴۹) مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّيْنٍ (رواه احمد و الترمذی)

(۲۴۹) څوک چه دَ خلقو په مینځ کښے قاضی کړے شو نو دے بغیر دَ چاړے نه حلال کړے شو۔

(۲۵۰) مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْ اَشْرَكَ (رواه الترمذی)

(۲۵۰) چا چه دَ الله نه بغیر په بل څهٔ قسم اوکړو نو دهٔ شرک اوکړو۔

(۲۵۱) مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهٗ وَ مَنْ كَانَ

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ. (رواه البخاری)

(۲۵۱)څوک چه په الله او دَ قيامت په ورځ ايمان لری نو دَ ميلمه اکرام دِ کوی او څوک چه په الله او دَ قيامت په ورځ ايمان لری نو ګوانډی ته دِ تکليف نهٔ رسوی، او څوک چه په الله او دَ قيامت په ورځ ايمان لری نو ښهٔ خبرے دِ کوی يا دِ چُپ اوسی۔

(۲۵۲)مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَاَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَاَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ (رواه مسلم)

(۲۵۲)چا چه دَ ماسخوتن مونځ جمع سره اوکړو ګويا چه نيمه شپه ئی قيام (مونځ کښے ولاړه) اوکړو او چا چه دَ صبا مونځ جمع سره اوکړو ګويا چه تمامه شپه ئی قيام اوکړو۔

(۲۵۳)مَنْ بَطَّاَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ (رواه مسلم)

(۲۵۳)څوک چه عمل روستو کړو نو نسب به ئی وړاندے نهٔ کړی۔

(۲۵۴)مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ اُمُّهُ (رواه البخاری ومسلم)

(۲۵۴)چا چه دَ الله تعالی دَ رضا دَ پاره حج اوکړو پس جماع ئی اونکړو او نهٔ ئی خرابه خبره اوکړه نو هغه واپس شو (دَ ګناه نه پاک) دَ هغے ورځے په شان نه کومه چه مور زيږولے وو۔

(۲۵۵)مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَ إِنْ مَاتَ عَلٰى فِرَاشِهٖ ( رواه مسلم )

(۲۵۵) چا چه دَ الله تعالی نه په رشتیا دَ شهادت سوال اوکړو نو الله پاک به ئې دَ شهیدانو مرتبو ته اورسوی اګر چه په خپله بستره باندے مړ شی۔

(۲۵۶)مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ (رواه ابو داود )

(۲۵۶)دَ چا چه ویښتهٔ وی نو عزت د کوی۔

(۲۵۷)مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ إِيْمَانًا بِاللّٰهِ وَ تَصْدِيْقًا بِوَعْدِهٖ فَإِنَّ شِبْعَهُ وَ رِيَّهُ وَ رَوْثَهُ وَ بَوْلَهُ فِيْ مِيْزَانِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ( رواه البخاری )

(۲۵۷)چا چه دَ الله تعالی په لار کښے اس بند اوساتلو په الله ایمان لری او وعدو ته ئې رشتینے وائی پس دَ دهٔ خوراک ،څکاک، خاشنړهٔ او متیازے به دَ قیامت په ورځ دَ دهٔ (دَ نیکو) په تله کښے وی۔

# نَوْعٌ اٰخَرُ مِنْهُ

(۲۵۸)إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَ سَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ (رواه احمد )

(۲۵۸)کله چه تا خپله نیکی خوشحالوی و بدی د خفه کوی نو تهٔ مؤمن ئې

(۲۵۹)إذا وُسّدَ الْاَمْرُ إلٰى غيرِ اهْلِه فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ (بخاری)

(۲۵۹)کله چه امر نا اهلو ته اوسپارلے شی نو دَ قیامت انتظار کوه۔

(۲۶۰)إذَا قَضى اللّٰهُ لِعَبْدٍ اَنْ يَّمُوْتَ بِاَرْضٍ جعَلَ لَهٗ اِلَيْهَا حَاجَةً.

(رواه الترمذی)

(۲٦۰)کله چه الله پاک دَ یو بنده په یو زمکه کښے د مرګ فیصله اوکړی

نو هغهٔ له هغے ځائے ته حاجت پیښ کړی۔

(۲۶۱)إذَا لَبِسْتُمْ وَ إذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَءُوْا بِمَيَامِنِكُمْ (رواه احمد)

(۲٦۱)کله چه تاسو اغوستل کوئ او کله چه تاسو اودس کوئ نو په ښی

طرف شروع کوئ۔

(۲۶۲)إذَا وُضِعَ الطَّعَامُ فَاخْلَعُوْا نِعَالَكُمْ فَإنَّهٗ اَرْوَحُ لِاَقْدَامِكُمْ.

(رواه الدارمی)

(۲۵۹)کله چه خوراک کیخودے شی نو خپل پیزارونه اوباسئ ځکه چه دا

زیات راحت رسونکے دے ستاسو قدمونو ته۔

(۲۶۳)إذَا كُنْتُمْ ثَلاثَةً فَلا يَتَنَاجٰى اثْنَانِ دُوْنَ الْاٰخَرِ حَتّٰى تَخْتَلِطُوْا

بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُّحْزِنَهٗ (رواه البخاری ومسلم)

(۲٦۳)کله چه تاسو درے کسان ئی نو دوه دِ دَ دریم نه بغیر پټه خبره نهٔ

کوی تر دے چه تاسو خلقو سره ملاؤ شئ دَ دے وجه چه (دا پټه خبره به)

هغه خفه کړي.

(۲۶۴)إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَاَكْثِرْ مَاءَ هَا وَ تَعَاهَدْ جِيْرَانَكَ (رواه مسلم)

(۲۶۴)کله چه ته ښوروا پخوې نو اوبهٔ په کښې زياتوه او د خپلو گاونډيانو خبر گيري په کښې کوه.

(۲۶۵)إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ اَصَابِعَ يَدَيْكَ وَ رِجْلَيْكَ (ترمذی)

(۲۶۵) کله چه اودس کوې نو د لاسونو او خپو گوتو کښې خلال کوه.

(۲۶۶)إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. (رواه البخاری)

(۲۶۶)کله چه تهٔ حيا نهٔ کوې نو چه څهٔ غواړې هغه کوه.

(۲۶۷)إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِيْنِهٖ وَ إِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِيْنِهٖ (رواه مسلم)

(۲۶۷)کله چه تاسو کښې يو کس خوراک کوي نو په ښي لاس دِ کوي او کله چه څکاک کوي نو په ښي لاس دِ کوي.

(۲۶۸)إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنٰى وَ إِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ لِتَكُنِ الْيُمْنٰى اَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَ اٰخِرُهُمَا تُنْزَعُ (رواه البخاری ومسلم)

(۲۶۸)کله چه تاسو کښې يو کس پيزار اچوي نو په ښي دِ شروع کوي او چه کله ئې اوباسي نو په گس دِ شروع کوي دې د پاره چه ښي طرف داسې

شی چه اول ورته اچولے شی او آخر ترے ویستلے شی۔

(۲۶۹)إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يَّجْلِسَ .( رواه البخاری ومسلم )

(۲۶۹)کله چه تاسو کښے یو کس جمات ته داخل شی نو دَ ناستے نه وړاندے دِ دوه رکعته اوکړی۔

(۲۷۰)إِذَا اَطَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا (رواه البخاری ومسلم )

(۲۷۰)کله چه تاسو یو کس اوږده کړی خپله غیر حاضری (ډیر وخت بهر بر کړی) نو خپل کور ته دِ دَ شپے (بغیر خبر ورکولو) نۀ راځی۔

(۲۷۱)إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي اَجَلِهِ فَاِنَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَ يَطِيبُ بِنَفْسِهِ .( رواه الترمذی )

(۲۷۱)کله چه تاسو یو مریض ته ورشئ نو دَ مرګ متعلق تسلی ورکوئ ځکه چه دا (تسلی) هیڅ څیز نۀ واپس کوی او دَ هغۀ په نفس ښۀ لګی۔

# ذِكْرُ بَعْضِ الْمَغِيْبَاتِ

## الَّتِيْ اَخْبَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا وَظَهَرَتْ بَعْدَ وَفَاتِهِ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ

دَ بعضے هغه پيشن ګوئيانو ذکر کومے چه حضور ﷺ پيش کړے وے او دَ هغوی ﷺ دَ وفات نه پس هم هغه شان ښکاره شوے۔

(١) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ سَيِّدُ الصَّادِقِيْنَ: لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِيْ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللّٰهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ

اَمْرُ اللّٰهِ وَ هُمْ عَلَى ذٰلِکَ .(بخاری و مسلم)

(۱)نبی کریم ﷺ اوفرمائیل او هغه دَ رشتینو سردار دے :زما امت کښے به همیشه یوه ډله دَ الله په حکم ولاړه وی دوی ته به هغه څوک نقصان نۀ شی رسولے چه دوی سره امداد نۀ کوی او نۀ هغه څوک چه دَ دوی مخالفت کوی تر دے چه دَ الله امر(قیامت) راشی او دوی به هم په دے قائم وی.(یعنی قیامته پورے یوه ډله به دَ اهل حق موجود وی)

(۲) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ :

یَکُوْنُ فِیْ اٰخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ کَذَّابُوْنَ یَأْتُوْنَکُمْ مِنَ الْاَحَادِیْثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَ لَا اٰبَاءُ کُمْ فَاِیَّاکُمْ وَ اِیَّاهُمْ لَا یُضِلُّوْنَکُمْ وَلَا یَفْتِنُوْنَکُمْ (رواه مسلم)

(۲)نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:په آخره زمانه کښے به دجالان دروغژن کسان وی تاسو ته به هغه احادیث راوړی چه نۀ به تاسو اوریدلے وی او نۀ به ستاسو پلارانو اوریدلے وی پس دَ هغوی نه ځانونه بچ کړئ چه تاسو گمراه نکړی او تاسو په فتنه کښے مبتلا نکړی.

(۳) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ خَیْرُ النَّاسِ قَرْنِیْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ ثُمَّ یَجِیْءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ اَحَدِهِمْ یَمِیْنَهٗ وَ یَمِیْنُهٗ شَهَادَتَهٗ (رواه البخاری و مسلم)

(۳)او نبی ﷺ اوفرمائیل:په ټولو خلقو کښے بهترین زما دَ زمانے خلق دی

بیا هغه خلق چه دوی پسے دی (صحابه او تابعین) بیا هغه خلق چه هغوی پسے دی (تبع تابعین) بیا به یو داسے قوم راشی چه په هغوی کښے دَ یو کس ګواهی به دَ قسم نه او قسم به دَ ګواهئ نه وړاندے کیږی۔

(۴) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَیَأْتِیَنَّ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَّا یَبْقَی اَحَدٌ اِلَّا اٰکِلُ الرِّبٰو فَاِنْ لَّمْ یَأْکُلْهُ اَصَابَهٗ مِنْ بُخَارِهٖ (رواه احمد و ابوداود)

(۴)او نبی ﷺ اوفرمائیل:په خلقو به خامخا یو زمانه راځی چه یو کس به باقی پاتے نهٔ شی مګر سود خور (به وی) کهٔ سود اونخوری نو اثر به ورته خامخا اورسی۔

(۵) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ اِنَّ الدِّیْنَ بَدَأَ غَرِیْبًا وَ سَیَعُوْدُ کَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰی لِلْغُرَبَاءِ وَ هُمُ الَّذِیْنَ یُصْلِحُوْنَ مَا اَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِیْ مِنْ سُنَّتِیْ. (رواه الترمذی)

(۵)او نبی ﷺ اوفرمائیل:بیشکه دین چه شروع شو نا اشنا او بیا به واپس نا اشنا شی پس خوشخبری ده دَ نا اشنا خلقو دَ پاره او دا هغه کسان دی چه دَ هغے سنتو اصلاح کوی کوم چه زما نه پس خلقو فاسد کړے وی۔

(٦) وَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ یَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ کُلِّ خَلْفٍ عُدُوْلُهٗ یَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِیْفَ الْغَالِیْنَ وَ اِنْتِحَالَ الْمُبْطِلِیْنَ وَ تَأْوِیْلَ الْجَاهِلِیْنَ. (رواه البیهقی فی کتاب المدخل)

(٦)او نبی ﷺ اوفرمائیل:په هر نسل کښے به دا علم عادلان خلق

حاصلوی دَ دے نه به دَ متجاوزینو تبدیلیانے ' دَ باطلو خلقو دروغ او دَ جاهلانو تاویلونه دفع کوی۔

(۷) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَا تَذْهَبُ الدُّنْیَا حَتّٰی یَأْتِیَ عَلَی النَّاسِ یَوْمٌ لَا یَدْرِی الْقَاتِلُ فِیْمَ قَتَلَ وَ لَا الْمَقْتُوْلُ فِیْمَ قُتِلَ فَقِیْلَ کَیْفَ یَکُوْنُ ذٰلِکَ قَالَ اَلْهَرَجُ اَلْقَاتِلُ وَالْمَقْتُوْلُ فِی النَّارِ.

( رواه مسلم )

(۷)او نبی ﷺ اوفرمائیل:قسم په هغے ذات چه دَ هغهٔ په قبضه کښے زما ساه ده دنیا به نهٔ ختمیږی تر دے چه په خلقو باندے یو وخت راشی قاتل ته به پته نهٔ لګی چه په څهٔ وجه دهٔ قتل اوکړو او مقتول ته به پته نهٔ لګی چه په څهٔ وجه دے قتل کړے شو پس اووئیلے شو چه دا به ولے وی نو وے فرمائیل: هرج به وی قاتل او مقتول دواړه به په اور کښے وی۔(مقتول به څکه جهنم ته ځی چه دے هم اراده لری چه زهٔ په قتل کښے وړاندے شم)۔

(۸) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَ یُقْبَضُ الْعِلْمُ وَ تَظْهَرُ الْفِتَنُ وَ یُلْقَی الشُّحُ وَ یَکْثُرُ الْهَرَجُ قَالُوْا وَ مَا الْهَرَجُ قَالَ اَلْقَتْلُ :

(رواه البخاری و مسلم )

(۸)او نبی ﷺ اوفرمائیل: زمانه به نزدے شی او علم به قبض کړے شی او فتنے به ښکاره شی او بخل به واچولے شی هرج به زیات شی صحابو پوښتنه اوکړه هرج څهٔ څیز دے؟ وے فرمائیل: قتل۔

(۹)وَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّم وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَا تَذْهَبُ الدُّنْیَا حَتّٰی یَمُرُّ الرَّجُلُ عَلَی الْقَبْرِ فَیَتَمَرَّغُ عَلَیْهِ وَ یَقُوْلُ یَالَیْتَنِیْ کُنْتُ مَکَانَ صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ وَ لَیْسَ بِهِ الدِّیْنُ اِلَّا الْبَلَاءُ (رواه مسلم)

(۹)او نبی ﷺ اوفرمائیل: او نبی ﷺ اوفرمائیل:قسم په هغے ذات چه دَ هغهٔ په قبضه کښے زما ساه ده دنیا به نهٔ ختمیږی تر دے چه یو سړے به په یو قبر باندے تیریږی پس په هغے باندے به اوړغړی او وائی به چه اے افسوس! زهٔ دَ دے قبر والا په ځائے وے، دهٔ کښے به دین نهٔ وی بلکه مصیبتونه به وی۔ (دا هرڅهٔ به دَ مصیبتونو دَ وجه وائی)۔

(۱۰) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یُوْشَکُ اَنْ یَّاْتِیَ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَا یَبْقٰی مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اِسْمُهٗ وَلَا یَبْقٰی مِنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا رَسْمُهٗ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَ هِیَ خَرَابٌ مِّنَ الْهُدٰی عُلَمَاؤُهُمْ شَرٌّ مَّنْ تَحْتَ اَدِیْمِ السَّمَاءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَ فِیْهِمْ تَعُوْدُ. (رواه البیهقی)

(۱۰)او نبی ﷺ اوفرمائیل: قریبه ده چه په خلقو باندے داسے زمانه راشی چه دَ اسلام به صرف نوم پاتے شی او دَ قرآن پاک به صرف نقش پاتے شی جماتونه به ئی آباد وی لیکن دَ هدایت په اعتبار به وران وی دَ هغوی پوهان به دَ آسمان دَ څرمنے لاندے خراب او ناکاره خلق وی هم دَ دوی نه به فتنے پیدا کیږی او هم دوی ته به واپس کیږی۔

(۱۱) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یَکُوْنُ فِیْ اٰخِرِ الزَّمَانِ اَقْوَامٌ اِخْوَانُ الْعَلَانِیَةِ وَ أَعْدَاءُ السَّرِیْرَةِ فَقِیْلَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَ کَیْفَ یَکُوْنُ ذٰلِکَ قَالَ ذٰلِکَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ اِلَی بَعْضٍ وَ رَهْبَةِ بَعْضِهِمْ مِّنْ بَعْضٍ (رواه احمد)

(۱۱) او نبی ﷺ اوفرمائیل: په آخره زمانه کښې به یو قوم وی چه په ښکاره به رونړه وی او په پټه به دشمنان وی پس اووئیلې شو یا رسول الله ﷺ! دا به څنګه وی وې فرمائیل: ددې وجه چه بعضې به بعضې نورو سره رغبت لری او بعضې به ذ بعضې نورو نه یره کوی۔

(۱۲) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یَذْهَبُ الصَّالِحُوْنَ الْاَوَّلُ فَالْاَوَّلُ وَتَبْقٰی حُفَالَةٌ کَحُفَالَةِ الشَّعِیْرِ اَوِ التَّمْرِ لَا یُبَالِیْهِمُ اللّٰهُ بَالَةً (رواه البخاری)

(۱۲) او نبی ﷺ اوفرمائیل: نیکان خلق به لاړ شی یو بل پسې او ذ کهجورو یا ذ اوربشو په شان بوس به باقی پاتې شی الله تعالی به په هغوی هیڅ پرواه نهٔ کوی۔

(۱۳) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی یَکُوْنَ اَسْعَدُ النَّاسِ بِالدُّنْیَا لُکَعُ ابْنُ لُکَعٍ (رواه الترمذی)

(۱۳) او نبی ﷺ اوفرمائیل: قیامت به قائم نهٔ شی تر دې چه په خلقو کښې زیات شریف لکع بن لکع شی (په خپله هم رذیل وی او پلار ئې هم

رذیل وی)۔

(۱۴) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یَاْتِیْ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ اَلصَّابِرُ فِیْهِمْ عَلٰی دِیْنِهٖ کَالْقَابِضِ عَلَی الْجَمْرِ. (رواه الترمذی)

(۱۴)او نبی ﷺ اوفرمائیل: په خلقو به یوه زمانه راشی چه په هغې کښې به په خپل دین باندې صبر کونکې داسې وی لکه په لاس کښې سکروټې نیونکې۔

(۱۵) وَ قَالَ النَّبِیِّ ﷺ یُوْشِکُ الْاُمَمُ اَنْ تَدَاعٰی عَلَیْکُمْ کَمَا تَدَاعَی الْاَکِلَةُ اِلٰی قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَ مِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ یَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ اَنْتُمْ یَوْمَئِذٍ کَثِیْرٌ وَلٰکِنَّکُمْ غُثَاءٌ کَغُثَاءِ السَّیْلِ وَ لَیَنْزِعَنَّ اللّٰهُ مِنْ صُدُوْرِ عَدُوِّکُمُ الْمَهَابَةَ مِنْکُمْ وَلَیَقْذِفَنَّ فِیْ قُلُوْبِکُمُ الْوَهْنَ قَالَ قَائِلٌ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْیَا وَ کَرَاهِیَةُ الْمَوْتِ (رواه ابوداود)

(۱۵)او نبی ﷺ اوفرمائیل: قریبه ده چه دا ډلې(اقوام عالم) به ستاسو خلاف یو بل ته داسې بلنه کوی لکه څنګه چه خوراک کونکی خپلې پیالۍ (دَ خوراک) ته بلنه کوی پس یو ویونکی اووئیل: او دا به په دغه وخت کښې زمونږ دَ کموالی دَ وجه وی؟ وې فرمائیل: بلکه تاسو به په دغه وخت کښې ډیر ئی لیکن تاسو به دَ سیلاب دَ ږګ په شان ږګ ئی۔ او البته الله پاک به ستاسو دَ دشمن دَ سینو نه ستاسو یره اوباسی او ستاسو په

زړونو کښې به وهن واچوی یو ویونکی اووئیل: یا رسول الله ﷺ! وهن څۀ شے دے؟ وے فرمائیل: دَ دنیا محبت او دَ مرګ بدګڼړل۔

(۱٦) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی یَخْرُجَ قَوْمًا یَاْکُلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ کَمَا تَاْکُلُ الْبَقَرَةُ بِاَلْسِنَتِهَا. (رواه احمد)

(١٦)او نبی ﷺ اوفرمائیل: قیامت به نۀ راځی تر دے چه داسے یو قوم راشی چه هغوی به په خپلو ژبو باندے داسے خوراک کوی لکه څنګه چه غوا په ژبه باندے خوراک کوی۔ (فرق دَ حلالو او حرامو به نۀ کوی)

(۱۷) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ یَاْتِیْ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَا یُبَالِی الْمَرْءُ مَا اَخَذَ مِنْهُ اَمِنَ الْحَلَالِ اَمْ مِنَ الْحَرَامِ (رواه البخاری)

(١٧) او نبی ﷺ اوفرمائیل: په خلقو به داسے زمانه راشی پرواه به نۀ کوی یو بنده چه دَ څۀ نه ئی اخستل اوکړل دَحلالو نه او کۀ دَ حرامو نه۔

(۱۸) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ إِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ یَّتَدَافَعَ اَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا یَجِدُوْنَ إِمَامًا یُصَلِّیْ بِهِمْ. (رواه احمد و ابو داود)

(١٨)او نبی ﷺ اوفرمائیل: بیشکه دَ قیامت دَ علامو نه دا هم ده چه جمات والا به یو بل لرے کوی دوی به نۀ مومی یو داسے امام چه دوی ته مونځ ورکړی۔

(۱۹) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِیْ لِیْ حُبًّا نَاسٌ یَکُوْنُوْنَ بَعْدِیْ یَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ رَاٰنِیْ بِاَهْلِهٖ وَ مَالِهٖ. (رواه مسلم)

(۱۹)او نبي ﷺ اوفرمائيل: بيشكه زما په امت كښې ما سره ډير سخت محبت كونكي هغه خلق دي چه زما نه پس به وي په هغوي كښې يو كس به دا تمنا كوي چه اے كاش! چه ما اووينې د خپل اهل او مال په بدله كښې.

(۲۰) وَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ اَجْرِ اَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُقَاتِلُوْنَ اَهْلَ الْفِتَنِ. (رواه البيهقي في دلائل النبوة)

(۲۰)او نبي ﷺ اوفرمائيل: بيشكه شان د خبرے داسے دے چه د دے امت په آخر كښې به څه خلق چه د اولنو برابر اجر به ني وي امر بالمعروف به كوي نهي عن المنكر به كوي او فتنو والا سره به جنګ كوي

(۲۱) وَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيْهِ اِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ. (رواه احمد)

(۲۱)او نبي ﷺ اوفرمائيل: په خلقو به خامخا يو زمانه راځي چه په هغے كښې به صرف دينار او درهم فائده رسوي.

(۲۲) وَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ صِنْفَانِ مِنْ اَهْلِ النَّارِ لَمْ اَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَاَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُوْنَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيْلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوْسُهُنَّ كَاَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيْحَهَا وَ اِنَّ رِيْحَهَا لَتُوْجَدُ مِنْ مَسِيْرَةِ كَذَا وَكَذَا

(رواه مسلم)

(۲۲)او نبی ﷺ اوفرمائیل: دوه قسمه خلق اور والا دی ما هغوی لیدلے نۀ دی یو هغه ډله چه هغوی سره به کوړے وی دَ غوا دَ لکو په شان په هغے به خلق وهی او هغه ښځے چه کپړے به ئی اچولے وی (بیا هم) بربنډے به وی، خلقو ته به خواهش پیدا کونکے وی او په خپله به ئی هم خواهش وی سرونه به ئی دَ بختی اوښانو دَ کاږو قوبونو په شان وی، نۀ خو به جنت ته داخلیږی او نۀ به دوی دَ جنت بوئی محسوسوی او بیشکه دَ هغے بوئی دَ دومره دومره فاصلے نه موندلے شی۔ (ډیر لرے نه)

(۲۳) وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَقْبِضُ الْعِلْمَ اِنْتِزَاعًا یَنْتَزِعُهٗ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰکِنْ یَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰی اِذَا لَمْ یُبْقِ عَالِمًا اِتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوْسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوْا فَاَفْتَوْا بِغَیْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوْا وَ اَضَلُّوْا (رواه البخاری ومسلم)

(۲۳)او نبی ﷺ اوفرمائیل: بیشکه الله تعالی دَ علم قبض په راویستلو نۀ کوی چه دَ خپلو بندګانو نه ئی را اوباسی لیکن علم به اخلی دَ عالمانو په اخستلو سره تر دے پورے چه یو عالم به هم باقی پاتے نکړی خلق به جاهلان خپل مشران کړی او دَ هغوی نه به پوښتنه اوکړی پس هغوی به بغیر دَ علم نه فتویٰ ورکړی۔ پس ګمراه به شی او نور به هم ګمراه کړی۔

(۲۴) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا

اَلْفَرَائِضَ وَ عَلِّمُوْهَا النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْقُرْاٰنَ وَ عَلِّمُوْهُ النَّاسَ فَاِنِّیْ اِمْرَءٌ مَقْبُوْضٌ وَالْعِلْمُ سَیَنْقَبِضُ وَ یَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتّٰی یَخْتَلِفَ اِثْنَانِ فِیْ فَرِیْضَةٍ لَا یَجِدَانِ اَحَدًا یَفْصِلُ بَیْنَهُمَا. ( رواه الدارمی )

(۲۴)او نبی ﷺ اوفرمائیل: علم زده کوئ او نورو خلقو ته ئی ښایئ، فرائض( دَ اسلام یا مسئلے دَ میراث) زده کوئ او هغه خلقو ته ښایئ، قرآن پاک زده کوئ او نورو خلقو ته ئی ښایئ ځکه چه زهٔ بنده یم چه اوچتولے به شم او علم به هم عنقریب اوچت کړے شی او فتنے به ښکاره شی تر دے چه دوه کسان به په یو فرض کښے اختلاف اوکړی داسے یو کس به نهٔ بیا مومی چه هغه دَ دوی فیصله اوکړی.

(۲۵) وَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ :

اِقْرَءُوا الْقُرْاٰنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَ اَصْوَاتِهَا وَ اِیَّاکُمْ وَ لُحُوْنَ اَهْلِ الْعِشْقِ وَلُحُوْنَ اَهْلَ الْکِتٰبَیْنِ وَسَیَجِیْءُ بَعْدِیْ قَوْمٌ یُرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْاٰنِ تَرْجِیْعَ الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ لَا یُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ الَّذِیْنَ یُعْجِبُهُمْ شَاْنُهُمْ. (رواه البیهقی )

(۲۵)او نبی ﷺ اوفرمائیل: قرآن پاک دَ عربو په لهجو(عربی لهجه یعنی دَ عربو په طریقه او طرز باندے) او آوازونو سره لولئ، او دَ عاشقانو دَ لهجو نه ځان اوساتئ او دَ دواړو کتابونو والا(یهودو او عیسائیانو دَ لهجو نه هم ځان اوساتئ) اوزر دے چه زما نه پس به یو قوم راشی چه هغوی به دَ قرآن

پاک (لوستلے شوے حصه) واپس (تلاوت) کوی لکه دَ سندرے او ژړا والا دَ واپس کولو په شان۔ قرآن پاک به دَ دوی دَ حلقونو نه وړاندے نهٔ تیریږی دَ دوی زړونه به په فتنو کښے پراتهٔ وی او دَ هغے کسانو زړونه به هم (په فتنو کښے پراتهٔ وی) چه دَ دوی دا حال ئی خوشحالوی۔

# اَلْبَابُ الثَّانِیْ

## فِی الْوَاقِعَاتِ وَالْقَصَصِ

## وَفِیْهِ اَرْبَعُوْنَ قِصَّةً

(۱) وَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم ذَاتَ یَوْمٍ اِذْ طَلَعَ عَلَیْنَا رَجُلٌ شَدِیْدُ بَیَاضِ الثِّیَابِ شَدِیْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا یُرٰی عَلَیْهِ اَثَرُ السَّفَرِ وَ لَا یَعْرِفُهٗ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰی جَلَسَ اِلَی النَّبِیِّ صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ :فَاَسْنَدَ رُكْبَتَیْهِ اِلٰی رُكْبَتَیْهِ وَ وَضَعَ كَفَّیْهِ عَلٰی فَخِذَیْهِ وَ قَالَ یَا مُحَمَّدُ اَخْبِرْنِیْ عَنِ

اَلاِسْلَامِ قَالَ : اَلْاِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّااِلٰـهَ اِلَّا اللّٰـهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰـهِ وَ تُقِيْمَ الصَّلٰوةَ وَ تُؤْتِي الزَّكٰوةَ وَ تَصُوْمَ رَمَضَانَ وَ تَحُجَّ الْبَيْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا قَالَ صَدَقْتَ فَعَجِبْنَا لَهٗ يَسْأَلُهٗ وَ يُصَدِّقُهٗ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِيْمَانِ قَالَ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَ مَلَائِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَ شَرِّهٖ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِحْسَانِ قَالَ اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنْ اَمَارَاتِهَا قَالَ أَنْ تَلِدَ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا وَ اَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُوْنَ فِي الْبُنْيَانِ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِيْ يَا عُمَرُ اَ تَدْرِيْ مَنِ السَّائِلُ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ فَاِنَّهٗ جِبْرِيْلُ اَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِيْنَكُمْ ( رواه مسلم )

(۱) حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی: چه یوه ورځ مونږه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو په دې کښې یو سړې رااورسیدو چه کپړې ئې زیاتې سپینې وې او ویښته ئې زیات تور وو داسې نه وه معلومه چه دې د سفر نه

راغلے دے او نۀ زمونږ نه هغه چا پيژندو . هغه کيناستو د حضور ﷺ
سره او خپل زنګونان ئے دَ حضور ﷺ دَ زنګونانو سره ملاؤ کړل (لکه
څنګه چه شاګرد دَ استاذ مخے ته کينی) بيانے اووے اے محمد! اوښايه ماته
اسلام څه دے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل اسلام دادے چه تۀ ګواهی ورکړه
(يعنی په ژبه سره اووايه او په زړۀ باندے يقين اوکړه) ددے خبرے چه نشته
دے ربښتونے معبود سوا دَ الله نه او محمد(ﷺ) دَ هغه راليږلے شوے
رسول دے او قائمه وه مونځ لره او ادا کوه زکوٰة لره او روژے ساته دُ رمضان
او دَ خانه کعبے حج کوه که چرے ستا نه کيږی. (يعنی دَ لارے خرچ در سره
وی او په لارد کښے څه يره نۀ وی) هغه اووے تا رښتيا اووے. مونږه حيران
شو چه پخپله تپوس کوی او بيا پخپله وائی چه رښتيا دے اووے (حالانکه
تپوس کونکے بے علمه وی او رښتيا دے اووے دا خو هغه کس وائی چه
هغه ته علم وی دا دوارد کاره يو سړے څنګه اوکړی) بيا هغه سړی اووے
ماته اوښايه چه ايمان څه دے؟ حضور ﷺ او فرمائيل ايمان دادے چه تۀ
يقين اوکړه (دَزړۀ نه) په الله باندے او دَ هغه په فرښتو باندے (چه دَ الله پاک
بندګان دی او دَ هغۀ نافرمانی نۀ کوی) او د هغه په پيغمرانو باندے (چه
هغوی لره الله راليږلے دی دَ حق لارے دَ ښودنے دَپاره) او په ورځ دَ آخرت
باندے (يعنی دَ قيامت ورځ چه په دغه ورځ به حساب کتاب کيږی او دَ ښۀ
او بدو اعمالو تول به کيږی) او يقين اوکړه په تقدير باندے چه ښۀ او بد تمام

دَ الله پاک دَ طرف نه دی (یعنی دَ ټولو خالق هغه دے) هغه سړی اووے چه تا رښتیا اووے۔ بیا هغه سړی اووے چه اوښایه ماته احسان څه دے؟ هغه اوفرمائیل احسان دادے چه ته دَ الله عبادت کوه په دے شان سره ګویا چه ته خدائے وینے کهٔ دومره نهٔ وی نو داسے اوګنړه چه هغه تا وینی۔ بیا هغه سړی اووے چه اووایه ماته چه قیامت به کله وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل دَچانه چه تپوس کوے هغه دَ تپوس کونکی نه زیات نهٔ پوهیږی۔ بیا هغه سړی اووے چه ماته ددے نښانے اوښایه حضور ﷺ اوفرمائیل یوه نښانی داده چه وینزه به خپلے مالکے لره او زیږه وی دویمه نښانی داده چه ته به اوګورے چه دَ چا په خپو پیزار نهٔ وو او په تن پورے ئے کپړے نهٔ وے هغه مفلسان به لوے لوے عمارتونه جوړه وی راوی وائی چه بیا هغه سړے لاړو زهٔ دَ ډیر وخته پورے حصار شوم ددے نه پس حضور ﷺ ماته اوفرمائیل اے عمره ته پیژنے چه دا تپوس کونکے څوک وو؟ ما اووے الله او دَ هغه رسول ښهٔ پوهیږی حضرتؐ اوفرمائیل چه دا جبریل وو تاسو ته ستاسو د دین دَ زده کولو دَپاره راغلے وو۔

(۲) وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَجَعْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ حَتّٰى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيْقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوْا وَهُمْ عُجَالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَ أَعْقَابُهُمْ تَلُوْحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَيْلٌ

لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ اَسْبِغُوا الْوُضُوءَ ( رواه مسلم )

(۲) دَ عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ رسول الله ﷺ سره دَ مکے مکرمے نه مدینے منورے ته واپس راتلو تر دے چه مونږ په لاره کښے اوبو ته نزدے راغلو نو یوے ډلے دَ مازیګر په وخت کښے جلتی اوکړه اودس ئی اوکړو او په هغوی جلتی کونکی وو پس مونږ هغوی ته را اورسیدو او دَ هغوی پوندے ځلیدے چه اوبۀ ورته نۀ وے رسیدلے پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هلاکت دے دَ دے پوندو دَ پاره دَ اور دَ وجه، کامل اودس کوئ۔

(۳) وَ عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ یَتَهَافَتُ فَاَخَذَ بِغُصْنَیْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ فَجَعَلَ ذٰلِکَ الْوَرَقُ یَتَهَافَتُ قَالَ : فَقَالَ یَا اَبَاذَرٍّ قُلْتُ لَبَّیْکَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَیُصَلِّی الصَّلٰوةَ یُرِیْدُ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهٗ کَمَا تَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ۔ ( رواه احمد )

(۳) دَ حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دَ ژمی په موسم کښے بهر ته تشریف راؤړو او (دَ ونو) پاڼړے غورځیدے۔ نو هغوی ﷺ دَ یو ونے دوه څانګے اونیولے پس دَ هغے پاڼړے په غورځیدو شوے بیا ئی اوفرمائیل: اے ابو ذر! ما اووئیل: لبیک یا رسول الله! وے

فرمائیل: بیشکه مسلمان بنده، مونځ کوی او په هغے باندے دَ الله دَ رضا اراده لری نو هغهٔ نه ګناهونه داسے غورځیږی لکه څنګه چه دا پاڼړے دَ دے ونے نه غورځیږی۔

(۴) وَ عَنْ رَبِیْعَةَ بْنِ کَعْبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ أَبِیْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَتَیْتُهٗ بِوَضُوْئِهٖ وَحَاجَتِهٖ فَقَالَ لِیْ سَلْ فَقُلْتُ اَسْئَلُکَ مُرَافَقَتَکَ فِی الْجَنَّةِ قَالَ اَوَ غَیْرَ ذٰلِکَ قُلْتُ هُوَ ذَاکَ قَالَ فَاَعِنِّیْ عَلٰی نَفْسِکَ بِکَثْرَةِ السُّجُوْدِ۔

(۴) دَ حضرت ربیعه بن کعب رضی الله عنه نه روایت دے چه ما به رسول الله ﷺ سره شپه تیروله پس ما هغوی ته دَ اودس اوبهٔ او چه څهٔ ته حاجت وو هغه راوړل پس ما ته ئی اوفرمائیل: سوال کوه! ما اووئیل: زهٔ په جنت کښے ستاسو دَ ملګرتیا سوال کوم۔ وے فرمائیل: دَ دے نه علاوه بل څهٔ ؟ ما اووئیل: بس هم دا (غواړم) وے فرمائیل: پس تهٔ ما سره دَ خپل نفس باره کښے په زیاتو سجدو باندے مدد اوکړه۔ (زما دَ ملګرتیا دَ پاره ډیر نوافل کوه)

(۵) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِیْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَیُسَوِّیْ صُفُوْفَنَا حَتّٰی کَاَنَّمَا یُسَوِّیْ بِهَا الْقِدَاحُ حَتّٰی رَاٰی اَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ ثُمَّ خَرَجَ یَوْمًا فَقَامَ حَتّٰی کَادَ اَنْ یُّکَبِّرَ فَرَاٰی رَجُلًا بَادِیًا صَدْرُهٗ مِنَ الصَّفِّ فَقَالَ عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَکُمْ اَوْ

لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ. ( رواهما مسلم )

(۵) دَ نعمان بن بشير رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه داسے برابرول لکه چه دا په غشى نيغوى ترد ے چه هغوى ﷺ معلومه کړه چه مونږ دَ هغوى ﷺ نه پوهه حاصله کړه بيا يوه ورځ ئى تشريف راوړو پس اودريدل تر دے چه قريبه وه چه تکبير ئى کړے وے چه يو کس ئى اوليدو، دَ هغهٔ سينه دَ صف نه بهر وتلے وه پس وے فرمائيل: اے دَ الله بندګانو! تاسو به خپل صفونه برابر ساتئ ګنے الله پاک به ستاسو په خپل مينځ کښے اختلافات پيدا کړى۔

( ٦ ) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ جِئْتُ فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ عَرَفْتُ اَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ فَكَانَ اَوَّلُ مَا قَالَ : يَآ اَيُّهَا النَّاسُ اَفْشُوا السَّلَامَ وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَ صِلُوا الْاَرْحَامَ وَ صَلُّوْا بِالَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ بِسَلَامٍ ( رواه الترمذى و ابن ماجه والدارمى )

(٦) دَ حضرت عبدالله بن سلام رضى الله عنه نه روايت دے فرمائى چه کله حضور ﷺ مدينے منورے ته تشريف راوړو نو زهٔ راغلم کله چه ما دَ دوى ﷺ مخ مبارک ته په غور سره اوکتل نو ما معلومه کړه چه دَ دوى ﷺ مخ دَ دروغژن مخ نهٔ دے پس اول هغه خبرد چه دوى ﷺ اوکړه دا وه چه اے

خلقو! سلام خور کړئ خوراک ورکوئ، دَ رشته دارئ خیال ساتئ، دَ شپے مونځ کوئ چه کله خلق اوده وی تاسو به جنت ته په سلامتیا سره داخل شئ۔

(۷) وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّهُمْ ذَبَحُوْا شَاةً فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ مَا بَقِیَ مِنْهَا قَالَتْ مَا بَقِیَ مِنْهَا اِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِیَ كُلُّهَا غَیْرَ كَتِفِهَا (رواه الترمذی)

(۷) دَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه دوی یوه چیلئ حلاله کړه۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل: آیا دَ هغے (چیلئ) نه څۀ باقی پاتے شته؟ نو عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل: دَ اولی (اوږے) نه سوا بل څۀ پاتے نشته۔ پس دوی ﷺ اوفرمائیل: ټوله باقی ده سوا دَ اولی نه۔ (یعنی صدقه کړے شوے باقی ده)

(۸) وَ عَنْ أَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ یُحَدِّثُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مُرَّ عَلَیْهِ بِجَنَازَةٍ فَقَالَ مُسْتَرِیْحٌ اَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ فَقَالُوْا یَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْمُسْتَرِیْحُ وَ الْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ فَقَالَ اَلْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ یَسْتَرِیْحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْیَا وَ اَذَاهَا إِلٰی رَحْمَةِ اللّٰهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ یَسْتَرِیْحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ. (رواه البخاری و مسلم)

(۸) او دَ حضرت ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے چه دوی بیان کولو

چه: حضور ﷺ سره خوا کښې یوه جنازه تیره شوه نو حضور ﷺ
اوفرمائیل: (دا بنده یا خو) مستریح دے (راحت موندلو والا یا) مستراح
منه (چه راحت ترے حاصل کړے شی) دے پس صحابه کرامو پوښتنه
اوکړه یا رسول الله ﷺ مستریح او مستراح منه څۀ شے دے؟ وے
فرمائیل: مؤمن بنده د دنیا د غمونو او تکلیفونو نه د الله رحمت ته په
ورتلو سره راحت بیا مومی (نو مستریح شو) او ګنهګار بنده نه نورو
بندګانو ښاریو، اونو او ځاروو ته راحت حاصل شی۔ (نو مستراح منه شو)

(۹) وَ عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلَ بِلَالٌ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ يَتَغَدّٰى فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْغَدَاءَ يَا بِلَالُ قَالَ اِنِّىْ صَائِمٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَأْكُلُ رِزْقَنَا وَ فَضْلَ رِزْقِ بِلَالٍ فِى الْجَنَّةِ اَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ اِنَّ الصَّائِمَ لَيُسَبِّحُ عِظَامُهٗ وَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مَا اُكِلَ عِنْدَهٗ (رواه البيهقى فى شعب الايمان)

(۹): بریده رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه بلال رضی الله عنه
حضور ﷺ ته په داسے حال کښې راغلو چه حضور ﷺ صبا نارے (د زوال
نه وړاندے خوراک) کولو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اے بلاله! طعام
حاضر دے۔ حضرت بلال رضی الله عنه اوفرمائیل: زما روژه ده نو رسول
الله ﷺ اوفرمائیل: مونږ خپل رزق خورو او د بلال رزق جنت کښې باقی

پاتے شو۔ آیا تا ته پته لګی اے بلاله ! چه دَ روژه دار هډوکی (هم) تسبیح بیانوی او دۀ دَ پاره فرشتے بخښنه غواړی تر څو پورے چه دۀ سره خوراک کولے شی۔

(۱۰) وَ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فِيْ دَيْنٍ كَانَ عَلٰى اَبِيْ فَدَقَقْتُ الْبَاب فَقَالَ مَنْ ذَا فَقُلْتُ أَنَا فَقَالَ أَنَا أَنَا كَأَنَّهٗ كَرِهَهَا. (رواه البخاری و مسلم)

(۱۰) دَ جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه زۀ حضور ﷺ ته راغلم (ورسره مے خبره کوله) دَ یو قرض په باره کښے چه زما په پلار باندے وو پس ما دروازه اوټکوله نو وے فرمائیل: څوک ئے؟ ما اووئیل: زۀ - وے فرمائیل: زۀ زۀ، ګویا چه دا (قسم مبهم جواب) بد اوګڼړلو۔

(۱۱) وَ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ اَخَوَانِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ اَحَدُهُمَا يَاْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْاٰخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَى الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهٖ (رواه الترمذی)

(۱۱) دَ انس رضی الله عنه نه روایت دے چه دَ حضور ﷺ په زمانه کښے دوه رونړه وو یو کس به حضور ﷺ ته راتلو او بل روزګار کولو نو هغے روزګار والا حضور ﷺ ته دَ خپل رور متعلق شکایت اوکړو نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: شاید چه تا ته دَ دۀ په وجه رزق درکولے شی۔

(۱۲) وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ قَاعِدٌ فَتَزَحْزَحَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ فِي الْمَكَانِ سَعَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلْمُسْلِمِ لَحَقًّا إِذَا رَاٰهُ اَخُوْهُ اَنْ يَّتَزَحْزَحَ لَهٗ. (رواه البیهقی فی شعب الایمان)

(۱۲) دَ واثله بن خطاب رضی الله عنه روایت دے فرمائی چه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو دوی ﷺ په جمات کښے تشریف فرما وو نو رسول الله ﷺ دَ هغے سړی دَ پاره (دَ خپل ځائے نه) اوخوزیدل نو هغے سړی اووئیل: یا رسول الله ﷺ! ځائے کښے خو فراخی ده نو نبی ﷺ اوفرمائیل: بیشکه دَ مسلمان دَ پاره دا حق دے چه کله ئی خپل رور (مسلمان) اووینی چه دَ دهٔ دَ پاره (دَ خپل ځائے نه) لږ اوخوزی.

(۱۳) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ اَبِيْ سَلْمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِيْ حِجْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ وَكَانَتْ يَدِيْ تَطِيْشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ. (رواه البخاری ومسلم)

(۱۳) دَ عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه نه روایت دے چه زهٔ ماشوم وم دَ رسول الله ﷺ په پرورش کښے وم او زما لاس به په کاسه کښے ګرځیدو نو ما ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دَ الله نوم واخله په ښی لاس خوراک کوه او

دَ هغې ځائے نه خوراک کوه کوم چه تاسو ته نزدے وی۔

(۱۴) وَ عَنْ اُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَأْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ حَتّٰى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهٖ اِلَّا لُقْمَةٌ فَلَمَّا رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صلی اللہ علیہ وسلم ثُمَّ قَالَ مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهٗ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ اِسْتَقَاءَ مَا فِيْ بَطْنِهٖ. (رواه ابو داود)

(۱۴) دَ حضرت اميه بن مخشي رضی الله عنه نه روايت دے چه يو سړی خوراک کولو او بسم الله ئی نهٔ وه لوستلے تر دے چه دَ دهٔ په خوراک کښے صرف يوه نوړئ پاتے شوه چه کله ئی هغه خپلے خلے ته اوچته کړه نو وے وئيل: بسم الله اوله وآخره" (دَ الله په نوم شروع دَ دے خوراک په اول او آخر کښے) پس نبی صلی اللہ علیہ وسلم اوخندل بيا ئی اوفرمائيل: شيطان دهٔ سره دَ وخت دَ سره خوراک کولو کله چه دهٔ دَ الله تعالی نوم واخستلو نو هغهٔ هغه څهٔ چه په ګيډه کښے ئی وو، قے کړل۔

(۱۵) وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ كُلُّ ثَلَاثَةٍ عَلٰى بَعِيْرٍ فَكَانَ اَبُوْلُبَابَةَ وَ عَلِيُّ ابْنُ اَبِيْ طَالِبٍ زَمِيْلَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَانَتْ اِذَا جَاءَتْ عُقْبَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَا نَحْنُ نَمْشِيْ عَنْكَ قَالَ مَا اَنْتُمَا بِاَقْوٰى مِنِّيْ وَمَا اَنَا بِاَغْنٰى عَنِ الْاَجْرِ مِنْكُمَا: (رواه فی شرح السنة)

(۱۵) دَ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه مونږ به دَ بدر په ورځ په یو اوښ باندے درے کسان وو نو ابولبابه او علی رضی الله عنهما دَ رسول الله ﷺ ملګری وو. فرمائی چه کله به دَ رسول الله ﷺ نوبت (وار) راغلو نو دے دواړو به وئیل: مونږ به ستاسو په ځائے پیدل تګ کوؤ. رسول الله ﷺ به ورته اوفرمائیل: نۀ خو تاسو زما نه زیات مضبوط ئی او نۀ زۀ ستاسو نه زیات دَ اجر نه بے پرواه یم. (یعنی څنګه چه تاسو دَ ثواب او اجر طمع کوئ زۀ هم کوم)

(۱۶) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَقِيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ مَا النَّجَاةُ فَقَالَ اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلٰى خَطِيْئَتِكَ (رواه احمد والترمذی)

(۱۶) دَ عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه ما دَ رسول الله ﷺ سره ملاقات اوکړو نو ما ورته اووئیل: نجات څۀ کښے دے؟ وے فرمائیل: خپله ژبه قابو اوساته، او خپل کور دِ تا له ځائے درکړی او په خپله خطا باندے ژړا کوه.

(۱۷) وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذَاتَ لَيْلَةٍ يُصَلِّيْ فَوَضَعَ يَدَهٗ عَلَى الْاَرْضِ فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ فَنَاوَلَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَعْلِهٖ فَقَتَلَهَا بِنَعْلِهٖ فَقَتَلَهَا فَلَمَّا

اِنْصَرَفَ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْعَقْرَبَ مَا تَدَعُ مُصَلِّيًا وَلَا غَيْرَهُ اَوْ (قَالَ) نَبِيًّا وَ غَيْرَهُ ثُمَّ دَعَا بِمِلْحٍ وَمَاءٍ فَجَعَلَهُ فِيْ اِنَاءٍ ثُمَّ جَعَلَ يَصُبُّهُ عَلَى اِصْبَعِهٖ حَيْثُ لَدَغَتْهُ وَ يَمْسَحُهَا وَ يُعَوِّذُهَا بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ . (رواه البيهقي في شعب الايمان)

(۱۷)دَ علي رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: يوه شپه رسول الله ﷺ مونځ کولو نو لاس مبارک ئې په زمکه باندے کيخودو نو يو لړم اوچيچلو نو هغه رسول الله ﷺ په خپله پڼړه باندے اووهلو او قتل ئې کړو چه کله را اوګرځيدل نو وے فرمائيل: الله تعالى په لړم لعنت اوکړی نۀ مونځ ګذار پريږدی او نۀ بل څوک يا ئې داسے اوفرمائيل: نۀ نبي پريږدی او نۀ بل څوک، بيا ئې اوبۀ او مالګه را اوغوستل او په يو لوښی کښے ئې واچول بيا ئې هغه په خپله ګوته مبارکه باندے اچولے کوم ځائے کښے چه لړم چيچلے وو مګلو ئې او معوذتين ئې پرے لوستل۔

(۱۸) وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اُنَاسٍ مِنْ جُهَيْنَةَ فَاَتَيْتُ عَلٰى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَذَهَبْتُ اَطْعَنُهُ فَقَالَ: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ فَجِئْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ اَقَتَلْتَهُ وَ قَدْ شَهِدَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا فَعَلَ ذٰلِكَ تَعَوُّذًا قَالَ فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ

قَلْبِهٖ۔

(۱۸)دَ اسامه بن زید رضی الله عنهما نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ مونږ دَ جهینه څۀ خلقو ته لیږلے وو نو زۀ هغوی کښے یو سړی ته راغلم نو شروع مے اوکړه هغه مے په نیزه وهلو نو هغۀ اووئیل: لا اله الا الله، او ما په نیزه اووهلو قتل مے کړو۔ بیا زۀ نبی ﷺ ته راغلم او خبر مے ورکړو نو ما ته ئی اوفرمائیل: آیا تا قتل کړو او هغۀ دا ګواهی کوله چه دَ الله تعالی نه سوا بل معبود نشته ما اووئیل: یا رسول الله ﷺ دا (ګواهی) خو ئی دَ ځان بچ کولو دَ پاره کوله، وے فرمائیل: تا دَ هغۀ زړۀ ولے نۀ څیرلو۔

(۱۹) وَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اِنَّ رَجُلًا تَقَاضٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَاَغْلَظَ لَهٗ فَهَمَّ اَصْحَابُهٗ فَقَالَ دَعُوْهُ فَاِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا وَاشْتَرُوْا لَهٗ بَعِیْرًا فَاَعْطُوْهُ اِیَّاهُ قَالُوْا لَانَجِدُ اِلَّا اَفْضَلَ مِنْ سِنِّهٖ قَالَ اِشْتَرُوْهُ فَاَعْطُوْهُ اِیَّاهُ فَاِنَّ خَیْرَکُمْ اَحْسَنُکُمْ قَضَاءً. (رواه البخاری ومسلم)

(۱۹)دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه یو سړی دَ رسول الله ﷺ نه غوښتنه اوکړه نو سختی ورته اوکړه پس صحابه کرامو اراده اوکړه (دَ هغۀ دَ وهلو) نو نبی ﷺ اوفرمائیل: دے پریږدئ ځکه چه دَ حقدار دَ پاره خبره کول شته دۀ له یو اوښ واخلئ او دۀ ته ئی ورکړئ صحابه کرامو

اوفرمائیل: مونږ خو نهٔ بیا مومو مګر یو داسے اوښ چه دَ هغے اوښ (کوم چه دَ دهٔ قرض دے) نه زیات عمر والا دے۔ وے فرمائیل: دغه واخلئ او دهٔ ته ئی ورکړئ ځکه چه تاسو کښے بهترین بنده هغه دے چه ښکلے ادا کونکے وی۔ (قرض او حق وغیره په ښکلے طریقه ورکونکے وی)۔

(۲۰) وَ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهَا کَانَتْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم وَ مَیْمُوْنَةَ اِذْ اَقْبَلَ ابْنُ اُمِّ مَکْتُوْمٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَدَخَلَ عَلَیْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اِحْتَجِبَا مِنْهُ فَقُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلَیْسَ هُوَ اَعْمٰی لَا یُبْصِرُنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَفَعَمْیَاوَانِ اَنْتُمَا اَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهٖ.

(رواه احمد والترمذی و ابوداود)

(۲۰) دَ ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه زهٔ دَ رسول الله ﷺ سره وم او میمونه رضی الله عنها هم (وه) په دے وخت کښے ابن ام مکتوم رضی الله عنه راغلو نو دَ رسول الله ﷺ خوا ته (دننه) راغلو پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل: تاسو دواړه دَ دهٔ نه پرده اوکړئ نو ما اووئیل: یا رسول الله ﷺ آیا دے ړوند نهٔ دے مونږ (خو) لیدلے نهٔ شی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: آیا تاسو دواړه هم ړندے ئی آیا تاسو ئی نهٔ وینئ۔

(۲۱) وَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم قَالَ کَانَتْ اِمْرَأَتَانِ مَعَهُمَا اِبْنَاهُمَا جَآءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ

بِابْنِ اِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ صَاحِبَتُهَا اِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِکِ وَ قَالَتِ الْاُخْرٰی اِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِکِ فَتَحَاکَمَتَا اِلٰی دَاوٗدَ فَقَضٰی بِهٖ لِلْکُبْرٰی فَخَرَجَتَا عَلٰی سُلَیْمَانَ بْنِ دَاوٗدَ فَاَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ اِئْتُوْنِیْ بِالسِّکِّیْنِ اَشُقُّهٗ بَیْنَکُمَا فَقَالَتِ الصُّغْرٰی لَا تَفْعَلْ یَرْحَمُکَ اللّٰهُ هُوَ اِبْنُهَا فَقَضٰی لِلصُّغْرٰی۔ (رواه البخاری ومسلم)

(۲۱)دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ اوفرمائیل: دوه ښځے وے او دواړو سره خپل ځامن وو نو شرمخ راغلو او دَ یوے ځوے ئی اوتختولو نو هغے ملګرے ئی اووئیل: ستا ځوے ئی تختولے دے او هغے بلے اووئیل: (نه) ستا ځوے ئی تختولے دے نو دواړو داؤد علیه السلام ته فیصله یوړله نو داؤد علیه السلام دَ مشرے په حق کښے فیصله اوکړه نو دواړه را اووتلے او سلیمان بن داؤد علیه السلام ته راغلے او هغوی علیه السلام ته ئی خبر ورکړو نو سلیمان علیه السلام اوفرمائیل: ما ته چاړهٔ راؤړئ زهٔ به ستاسو په مینځ کښے نیم کړم نو کشرے اووئیل: په تا دِ الله رحم اوکړی داسے مهٔ کوه دَ دے ځوے دے پس دَ کشرے په حق کښے ئی فیصله اوکړه۔

(۲۲) وَ عَنْ بُرَیْدَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَمْشِیْ اِذْ جَاءَهٗ رَجُلٌ مَعَهٗ حِمَارٌ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِرْکَبْ وَ تَاَخَّرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا

اَنْتَ اَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِکَ اِلَّا اَنْ تَجْعَلَهٗ لِیْ قَالَ جَعَلْتُهٗ لَکَ فَرَکِبَ. (رواه الترمذی)

(۲۲) دَ بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ روان وو چه یو سړے ورته راغلو ورسره خر وو نو وے وئیل: یا رسول الله ﷺ سور شه او په خپله هغه سړے روستو شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: نه، ته دَ خپلے سورلئ په مخکښے ځائے (سیټ) کیناستلو حقدارئے البته که ته ئی زما دَ پاره کړے هغهٔ اووئیل: ما ستاسو دَ پاره کړه نو بیا دوی ﷺ سوارهٔ شول۔

(۲۳) وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اِسْتَحْمَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّیْ حَامِلُکَ عَلٰی وَلَدِ نَاقَةٍ فَقَالَ مَا اَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهَلْ تَلِدُ الْاِبِلُ اِلَّا النُّوْقُ ۔ (رواه الترمذی)

(۲۳) دَ انس رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړی دَ رسول الله ﷺ نه سورلی اوغوستله نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: زهٔ تا دَ اوښے په بچی باندے سوروم (یعنی سورلئ دَ پاره دَ اوښے بچے درکوم) نو هغهٔ اووئیل: زهٔ به دَ اوښے په بچی څهٔ اوکړم؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دا اوښان خو نهٔ زیږوی مګر اوښے۔ (یعنی لوے اوښ هم دَ اوښے بچے وی)

(۲۴) وَعَنْ اَبِیْ اَیُّوْبَ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَاءَ

رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم فَقَالَ عِظْنِیْ وَ اَوْجِزْ فَقَالَ اِذَا قُمْتَ فِیْ صَلٰوتِکَ فَصَلِّ صَلٰوةَ مُوَدِّعٍ وَلَا تَکَلَّمْ بِکَلَامٍ تَعْذِرُ مِنْهُ غَدًا وَاجْمَعِ الْاَیَاسَ مِمَّا فِیْ اَیْدِی النَّاسِ. ( رواه احمد )

(۲۴) دَ ابوایوب انصاری رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو نو وے وئیل: ما ته وعظ اوکړه او مختصر اوکړه. پس رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: کله چه مونځ ته اودرېږے نو (دنیا نه) دَ رخصت کیدونکی په شان مونځ کوه (لکه چه دا ستا آخری مونځ دے) او داسے خبرے مهٔ کوه چه صبا بیا دَ هغے معذرت کوے او نااميدی جمع کړه دَ هغے څهٔ نه چه دَ خلقو په لاسونو کښے دی. (یعنی دَ خلقو دَ مالونو نه بے طمع شه)

(۲۵) وَ عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا نَحْنُ فِی الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اِذْ جَاءَ اَعْرَابِیٌّ فَقَامَ یَبُوْلُ فِی الْمَسْجِدِ فَقَالَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم مَهْ مَهْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُزْرِمُوْهُ دَعُوْهُ فَتَرَکُوْهُ حَتّٰی بَالَ ثُمَّ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ فَقَالَ لَهٗ اِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَیْءٍ مِنْ هٰذِهِ الْبَوْلِ وَالْقَذِرِ وَاِنَّمَا هِیَ لِذِکْرِ اللّٰهِ وَالصَّلَاةِ وَ قِرَاءَةِ الْقُرْاٰنِ اَوْ کَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم قَالَ وَ اَمَرَ رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَّاءٍ فَشَنَّهٗ

عَلَيۡهِ۔ ( رواه البخاری و مسلم )

(۲۵) دَ حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ رسول الله ﷺ سره په جمات کښے وو په دے کښے یو بانډیچی راغلو اودریدلو او په جمات کښے متیازے شروع کړے۔ صحابه کرامو دَ رسول الله ﷺ ورته اووئیل: مه مه (مه کوه دا څۀ کوے) نبی علیه السلام اوفرمائیل: دے مۀ منع کوئ متیازے پرے مۀ بندوئ دے پریږدئ پس صحابه کرامو پریخودو تر دے چه متیازے ئی اوکړے بیا رسول الله ﷺ هغه را اوبللو ورته ئی اوفرمائیل: دا جماتونه دَ دے متیازو او ګندګو (ځایونه نۀ دی او دَ دے) دَ پاره صلاحیت نۀ لری بیشکه دا جماتونه دَ الله پاک دَ ذکر، مونځ او دَ قرآن پاک دَ تلاوت دَ پاره دی۔ یا څنګه چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، راوی وائی بیا هغوی ﷺ په ډله کښے یو سړی ته حکم اوکړونو هغۀ یوه بوکه اوبۀ راوړے نو حضور ﷺ په هغه ځائے باندے اوبۀ واړولے۔

(۲۶) وَعَنۡ طَلۡقِ بۡنِ عَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ قَالَ خَرَجۡنَا وَفۡدًا اِلٰی رَسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعۡنَاهُ وَ صَلَّيۡنَا مَعَهٗ وَ اَخۡبَرۡنَاهُ اَنَّ بِاَرۡضِنَا بِيۡعَةً لَنَا فَاسۡتَوۡهَبۡنَا مِنۡ فَضۡلِ طُهُوۡرِهٖ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّاَ وَ تَمَضۡمَضَ ثُمَّ صَبَّهٗ لَنَا فِیۡ اِدَاوَةٍ وَ اَمَرَنَا فَقَالَ اُخۡرُجُوۡا فَاِذَا اَتَيۡتُمۡ اَرۡضَكُمۡ فَاكۡسِرُوۡا بِيۡعَتَكُمۡ وَ انۡضِحُوۡا مَكَانَهَا بِهٰذَا الۡمَاءِ وَاتَّخِذُوۡهَا مَسۡجِدًا قُلۡنَا اِنَّ الۡبَلَدَ بَعِيۡدٌ وَالۡحَرُّ شَدِيۡدٌ وَالۡمَاءُ يَنۡشِفُ فَقَالَ مُدُّوۡهُ

فَاِنَّهُ لَا یَزِیْدُهُ اِلَّا طَیِّبًا. ( رواه النسائی )

(۲٦)دَ طلق بن علی رضی الله عنه روایت دے فرمائی مونږ دَ یو وفد په صورت کښے حضور ﷺ ته لاړو نو مونږ ورسره بیعت اوکړو او مونږ ورسره مونځ اوکړو بیا ورته مونږ خبر ورکړو چه زمونږ په زمکه (علاقه) کښے یوه ګرجه ده. نو مونږ دَ دوی ﷺ نه دَ اودس باقی پاتے اوبۀ اوغوستلے پس حضور ﷺ اوبۀ را اوغوستلے اودس ئی اوکړو مضمضه ئی اوکړه بیا ئی هغه مونږ دَ پاره په یو لوښی کښے واچولے او مونږ ته ئی حکم اوکړو چه لاړ شئ کله چه تاسو خپلے زمکے (علاقے) ته اورسئ نو خپله ګرجه ورانه کړئ او دَ هغے په ځائے دا اوبۀ واچوئ او جمات په کښے جوړ کړئ مونږ ورته اووئیل: زمونږ ښار لرے دے او ګرمی زیاته ده او اوبۀ اوچیږی نو وے فرمائیل: دا زیاتوئ ځکه چه دے کښے دا زیاتی اوبۀ سوا دَ پاکوالی نه څۀ نۀ زیاتوی.

(۲۷) وَ عَنْ جُوَیْرِیَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُکْرَةً حِیْنَ صَلَّی الصُّبْحَ وَهِیَ فِیْ مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ اَنْ اَضْحٰی وَهِیَ جَالِسَةٌ قَالَ مَا زِلْتِ عَلَی الْحَالِ الَّتِیْ فَارَقْتُکِ عَلَیْهَا قَالَتْ نعم قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَکِ اَرْبَعَ کَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مِرَارٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ الْیَوْمَ لَوَزَنَتْهُنَّ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَ رِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ

عَرْشِهٖ وَ مِدَادَ كَلِمَاتِهٖ

(۲۷)دَ حضرت جویریه رضی الله عنها نه روایت دے چه حضور ﷺ دَ دے دَ خوا نه دَ صبا په وخت کښے تشریف یوړو کله چه دَ صبا مونځ اوکړو او جویریه رضی الله عنها دَ خپل مونځ په ځائے کښے وه بیا حضور ﷺ واپس راغلو دَ څاښت په وخت کښے او دا ناسته وه۔ وے فرمائیل: تهٔ هم په هغه حال پاتے شوے په کوم چه درنه زهٔ جدا شوے وم۔ وے وئیل: او۔ نبی ﷺ اوفرمائیل: ما ستا نه پس څلور کلمے درے ځله اولوستلے کهٔ چرته دا وزن کړے شی دَ هغه څهٔ په مقابله کښے چه تا نن وئیلے دی نو دا به ترے وزنی شی۔ (هغه کلمات دا دی) ترجمه:"پاکی ده الله پاک لره دَ هغهٔ ثناء سره دَ هغهٔ دَ مخلوق دَ شمیر برابر او دَ هغهٔ دَ رضامندئ مطابق او دَ هغهٔ دَ عرش دَ وزن مطابق او دَ هغهٔ دَ کلماتو دَ شمیر برابر۔

(۲۸) وَ عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَیْتَ اِنْ قُتِلْتُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَیْرَ مُدْبِرٍ یُکَفِّرُ اللّٰهُ عَنِّیْ خَطَایَایَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهُ ﷺ نَعَمْ فَلَمَّا اَدْبَرَ نَادَاهُ فَقَالَ نَعَمْ اِلَّا الدَّیْنَ کَذَالِکَ قَالَ جِبْرِیْل. ( رواهما مسلم )

(۲۸)دَ ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه یو سړی اووئیل: یا رسول الله ﷺ! ستاسو څهٔ خیال دے(ما ته هم خبر راکړئ) کهٔ زهٔ دَ الله په لار کښے قتل کړے شوم صبر کونکے، دَ ثواب نیت کونکے، وړاندے

تلونکے نۀ شا کونکے نو الله پاک به زما ګناهونه ما نه اوړژوی؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: او، چه کله واپس شو نو آواز ئی ورته اوکړو: او مګر قرض نه، داسے جبرئیل علیه السلام اوفرمائیل۔

(۲۹) وَعَنْ أَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَذَكَرَ الْحَدِیْثَ بِطُوْلِهٖ اِلٰی أَنْ قَالَ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَوْصِنِیْ قَالَ اُوْصِیْکَ بِتَقْوَی اللّٰهِ فَاِنَّهٗ اَزْیَنُ لِاَمْرِکَ کُلِّهٖ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ عَلَیْکَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ وَ وَذِکْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَاِنَّهٗ ذِکْرٌ لَّکَ فِی السَّمَاءِ وَ نُوْرٌ لَکَ فِی الْاَرْضِ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ عَلَیْکَ بِطُوْلِ الصَّمْتِ فَاِنَّهٗ مُطْرِدَةٌ لِلشَّیْطَانِ وَعَوْنٌ لَکَ عَلٰی اَمْرِ دِیْنِکَ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ اِیَّاکَ وَ کَثْرَةَ الضِّحْکِ فَاِنَّهٗ یُمِیْتُ الْقَلْبَ وَ یَذْهَبُ بِنُوْرِ الْوَجْهِ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ قُلِ الْحَقَّ وَ اِنْ کَانَ مُرًّا قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ لَاتَخَفْ فِی اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ قُلْتُ زِدْنِیْ قَالَ لِیُحْجِزْکَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ عَنْ نَفْسِکَ۔

(۲۹) حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائی زۀ رسول الله ﷺ ته ورغلم او بیا ئی اوږد حدیث ذکر کړو تر دے چه وے وئیل: ما اووئیل: یا رسول الله ﷺ ما ته وصیت اوکړه۔ وے فرمائیل: زۀ تا ته دَ الله دَ یرے وصیت کوم څکه چه دا به ستا هر کار ښکلے کړی۔ ما ورته اووئیل: ما ته زیات اوکړۀ نو وے فرمائیل: په خپل ځان باندے دَ قرآن پاک تلاوت، او دَ الله عز وجل

ذکر لازم کړه ځکه چه دا به ستا دَ پاره په آسمان کښې ذکر او په زمکه کښې رنړا وی ما ورته اوونیل: ما ته زیات اوکړئ نو وے فرمائیل: اوږد چپوالے په ځان لازم کړه. ځکه چه دا شیطان شړی او ستا دَ پاره ستا دَ دین په کار کښې مددګار دے. ما ورته اوونیل: ما ته زیات اوکړئ نو وے فرمائیل: ځان دَ زیاتے خندا نه بچ اوساته ځکه چه دا زړهٔ مړ کوی او دَ مخ رنړا ختموی ما ورته اوونیل: ما ته زیات اوکړئ وے فرمائیل: حق خبره کوه اګر کهٔ ترخه وی ما ورته اوونیل: ما ته زیات اوکړئ وے فرمائیل: دَ الله پاک (دَ دین) په باره کښې دَ چا دَ ملامت کونکی دَ ملامتیا نه یره مهٔ کوه. ما ورته اوونیل: ما ته زیات اوکړئ نو وے فرمائیل: پکار ده چه دَ خلقو (دَ عیبونو) نه منع کړی تا (دَ) هغه څهٔ (اصلاح) چه تا په خپل ځان کښې معلوم دی.

(۳۰) وَ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ أَتَدْرُوْنَ مَا الْغِیْبَةُ ؟ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ ذِکْرُکَ اَخَاکَ بِمَا یَکْرَهُ قِیْلَ اَفَرَاَیْتَ اِنْ کَانَ فِیْ اَخِیْ مَا اَقُوْلُ قَالَ اِنْ کَانَ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهٗ وَاِنْ لَّمْ یَکُنْ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّهٗ : (رواه مسلم)

(۳۰) دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: آیا تاسو ته پته لګی چه غیبت څهٔ دے؟ دوی اوونیل: الله او دَ هغهٔ رسول ته پته لګی. وے فرمائیل: (غیبت دا دے چه) تهٔ دَ خپل رور باره کښې دَ هغه څهٔ تذکره کوے چه هغه ئی بد ګنړی " اوونیلے شو ' ستاسو څهٔ

خیال دے (مونږ ته هم خبر راکړئ چه) کۀ چرته زما په رور کښے هغه څۀ موجود وی کوم چه زۀ ذکر کوم. وے فرمائیل: کۀ په هغۀ کښے هغه څۀ موجود وی کوم چه تۀ ذکر کوے نو تا ئی غیبت اوکړو او کۀ چرته هغه څۀ په کښے نۀ وی کوم چه تۀ وائے نو بیا خو دِ په هغه باندے تور (بهتان) اولګولو. (چه دَ غیبت نه هم سخته ګناه ده)

(۳۱) وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْحَى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلٰى جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اَنْ اَقْلِبْ مَدِيْنَةَ كَذَا وَ كَذَا بِاَهْلِهَا فَقَالَ يَارَبِّ اِنَّ فِيْهِمْ عَبْدَكَ فُلَانًا لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ اَقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَ عَلَيْهِمْ فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ. (رواه البیهقی فی شعب الایمان)

(۳۱) دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله تعالی جبرئیل علیه السلام ته وحی اوکړه چه فلانکے ښار دَ خپلو اوسیدونکو سره التهه کړه نو جبرئیل علیه السلام اووئیل: اے زما ربه! په هغوی کښے خو ستا فلانکے بنده دے چه ستا نافرمانی ئی دَ سترګے دَ رپ برابر هم نۀ ده کړے وے فرمائیل: په دۀ او دوی باندے ئی نسکور کړه ځکه چه دَ دۀ مخ زما (دَ نافرمانئ) باره کښے چرته یو ساعت هم نۀ دِ متغیر شوے.

(۳۲) وَ عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم نَامَ عَلَى حَصِيرٍ فَقَامَ وَ قَدْ اَثَّرَ فِي جَسَدِهٖ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اَمَرْتَنَا اَنْ نَّبْسُطَ لَکَ وَ نَعْمَلَ فَقَالَ مَالِيْ وَ لِلدُّنْيَا وَ مَا اَنَا وَالدُّنْيَا اِلَّا كَرَاكِبٍ اِسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَ تَرَكَهَا ( رواه الترمذی و ابن ما جه )

(۳۲) دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په یو پوزکی باندے اوده شو بیا پاسیدو او پوزکی ئی په بدن کښے نښانونه جوړ کړے وو۔ نو ابن مسعود اووئیل: یا رسول الله ﷺ! کهٔ تاسو مونږ ته حکم کړے وے چه مونږ تاسو له یو بستره تیاره کړو او جوړه کړو ( نودا حکم به ښهٔ وو) نو وے فرمائیل: زما او دَ دنیا څهٔ (تعلقات) دی۔ زهٔ خو دَ دنیا په نسبت نهٔ یم مګر دَ یو سور بنده په شان چه دَ یو اونے لاندے سوری ته ئی آرام اوکړه بیا لاړو او هغه ئی پریخوده۔

(۳۳) وَعَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ اَضْرِبُ غُلَامًا لِّيْ فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِيْ صَوْتًا اِعْلَمْ اَبَا مَسْعُوْدٍ اَللّٰهُ اَقْدَرُ عَلَيْکَ مِنْکَ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ فَاِذَا هُوَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللّٰهِ فَقَالَ اَمَا اِنَّکَ لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْکَ النَّارُ اَوْ (قَالَ) لَمَسَّتْکَ النَّارُ. ( رواه مسلم )

(۳۳) دَ حضرت ابو مسعود رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی چه ما خپل غلام وهلو نو دَ شا طرف نه مے یو آواز واؤریدو چه "ابو مسعود! پو هه

شه الله ډیر قادر دے په تا باندے ستا نه په دۀ باندے (یعنی تۀ چه په دۀ څومره طاقتورئے الله دَ دے نه په تا باندے زیات طاقتور دے) نو ما اوکتل ناګهانه رسول الله ﷺ وو۔ نو ما اوئیل: یا رسول الله ﷺ! دے آزاد دے دَ الله پاک دَ رضا دَ پاره نو وے فرمائیل: خبردار! کۀ تا داکار نۀ وے کړے نو اور به خامخا سیزلے وے یا ئی اوفرمائیل: اور به درته خامخا در رسیدلے وو۔

(۳۴) وَ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ كُنْتُ خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَوْمًا فَقَالَ يَاغُلَامُ اِحْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ اِحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ وَاِذَا سَاَلْتَ فَاسْئَلِ اللّٰهَ وَاِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَاعْلَمْ اَنَّ الْاُمَّةَ لَوْ اِجْتَمَعَتْ عَلٰی اَنْ يَنْفَعُوْكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوْكَ اِلَّا بِشَيْءٍ وَ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ وَلَوْ اِجْتَمَعُوْا عَلٰی اَنْ يَضُرُّوْكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوْكَ اِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْاَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ: (رواه احمد)

(۳۴) دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے فرمائی زۀ یوه ورځ رسول الله ﷺ پسے روستو وم نو ما ته ئی اوفرمائیل: اے هلکه! دَ الله پاک (دَ احکامو او حقونو) حفاظت کوه الله پاک به ستا حفاظت کوی۔ دَ الله پاک (دَ احکامو او حقونو) حفاظت کوه تۀ به ئی خپلے مخے ته بیا مومے او کله چه سوال کولے نو دَ الله پاک نه کوه او چه کله امداد غواړے نو دَ الله پاک نه غواړه۔ پوهه شه چه کۀ چرته تمام خلق به دے خبره داجمع شی چه تا ته

په يو ځيز فائده در اورسوی نو تا ته فائده نۀ شي درکولے مگر په هغه ځيز چه الله پاک ستا دَ پاره ليکلے وی او کۀ چرته دوی راجمع شی په تا ته په يو ځيز باندے ضرر در اورسوی نو تا ته ضرر نۀ شي در رسولے مگر په هغه ځيز چه الله پاک (دَ هغے ضرری کيدل) ستا دَ پاره ليکلے وی قلمونه اوچت کړے شوے دی او صحيفے (دَتقدير) اوچے شوے دی۔

(۳۵) وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم فِيْ سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهٖ فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَاَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَّرَةُ فَجَعَلَتْ تَفَرَّشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ فَجَعَ هٰذِهٖ بِوَلَدِهَا رُدُّوْا وَلَدَهَا اِلَيْهَا وَ رَاٰى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا قَالَ مَنْ حَرَّقَ هٰذِهٖ فَقُلْنَا نَحْنُ قَالَ اِنَّهٗ لَا يَنْبَغِيْ اَنْ يُّعَذِّبَ بِالنَّارِ اِلَّا رَبُّ النَّارِ : ( رواه ابوداود )

(۳۵)عبدالرحمٰن بن عبدالله دَ خپل پلار نه روايت کوی فرمائی چه مونږ رسول الله ﷺ سره په يو سفر کښے وو نو دوی ﷺ دَ خپل حاجت دَ پاره لاړل نو مونږ يوه بلبله اوليدله چه ورسره دوه بچی وو مونږ هغه دواړه بچی ئی اونيول نو بلبله راغله او شروع شوه خپلے وزرے ئی خورولے نو نبی ﷺ تشريف راؤړو وے فرمائيل: چا دے ته په خپل بچی باندے تکليف رسولے دے ... خپل بچے ... پس کړئ او يو ... ئی اوليدو چه مونږ

سیزلے وو نو وے فرمائیل: چا دا (دَ میږو کوږ) سیزلے دے؟ نو مونږ اووئیل: مونږ، وے فرمائیل: مناسب نۀ دی چه په اور باندے څوک عذاب ورکړی سوا دَ اور دَ رب نه۔

(۳٦) وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهٖ فَقَالَ كِلَاهُمَا عَلٰى خَيْرٍ وَ اَحَدُهُمَا اَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهٖ اَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَدْعُوْنَ اللّٰهَ وَ يَرْغَبُوْنَ اِلَيْهِ فَاِنْ شَاءَ اَعْطَاهُمْ وَ اِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ وَ اَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ أَوْ (قَالَ) اَلْعِلْمَ وَ يُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ اَفْضَلُ وَ اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيْهِمْ : (رواه الدارمی)

(۳٦) دَ عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خپل جمات کښے په دوؤ مجلسونو باندے تیر شول نو وے فرمائیل: دواړه ډلے په خیر (راجمع) دی او یوه دَ بلے نه افضله ده، دا کسان چه دی نو دوی الله پاک نه سوال کوی او هغۀ ته رغبت لری کۀ خوښه ئی شی نو دوی ته به ورکړی او کۀ خوښه ئی شی نو منع به اوکړی او دا نور کسان چه دی نو دوی فقه زده کوی یا ئی اوفرمائیل: علم زده کوی او ناپوهه ته تعلیم ورکوی نو دوی افضل دی او زۀ خو استاذ رالیږلے شوے یم بیا هغوی کښے کیناستلو۔

(۳۷) وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ بَيْنَ

يَدَیُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنَّ لِیُ مَمْلُوْكِيْنِ يُكَذِّبُوْنَنِیُ وَ يَخُوْنُوْنَنِیُ وَ يَعْصُوْنَنِیُ وَ اَشْتِمُهُمْ وَاَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ اَنَا مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يُحْسَبُ مَا خَانُوْكَ وَ عَصَوْكَ وَكَذَّبُوْكَ وَ عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ فَاِنْ كَانَ عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوْبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَ اِنْ كَانَ عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ دُوْنَ ذُنُوْبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَ اِنْ كَانَ عِقَابُكَ اِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوْبِهِمْ اُقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ فَتَنَحَّی الرَّجُلُ وَ جَعَلَ يَهْتِفُ وَ يَبْكِیُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَمَا تَقْرَاُ قَوْلَ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ وَ نَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَ اِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا وَ كَفٰی بِنَا حَاسِبِيْنَ فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا اَجِدُ لِیُ وَلِهٰؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ اُشْهِدُكَ اَنَّهُمْ كُلُّهُمْ اَحْرَارٌ. ( رواه الترمذی )

(۳۷)او دَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے فرمائی یو سړے راغلو او دَ حضور صلی اللہ علیہ وسلم مخے ته کیناستلو او وے وئیل: یا رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ! زما دوه غلامان دی ما ته دروغژن وائی او ما له دوکه راکوی او زما نۀ منی نو زۀ ورته بد رد وایم وهم ئی۔ نو زۀ هغوی سره (په) څنګه (معامله کنبے) یم نو رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمائیل: کله چه دَ قیامت ورځ شی نو

حساب به کولے شی دَ هغے دوکے چه هغوی تا ته درکړے ده او چه ستا نافرمانی ئی کړے ده او دروغژن ئی درته وئیلے دی او تا چه هغوی ته کومه سزا ورکړے ده (دَ هغے به هم حساب کولے شی) کهٔ چرته ستا هغوی ته سزا دَ هغوی دَ ګنا هونو په اندازه وی نو دا به کافی وی نهٔ به ستا دَ پاره وی او نهٔ به په تا باندے (وبال) وی او کهٔ چرته ستا سزا دَ هغوی دَ ګنا هونو نه کمه وی نو دا به ستا فضیلت وی او کهٔ چرته ستا سزا دَ هغوی دَ ګناهونو نه زیاته وی نو دَ هوی دَ پاره به تا نه دَ زیاتی بدله اخستلے شی نو هغه سړے یو ډډے ته شو شروع شو چه چغے ئی وهلے او ژړل ئی نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: آیا تهٔ لولے دا وینا دَ الله پاک چه " مونږ به دَ انصاف تله دَ قیامت په ورځ کیږدو نو په هیڅ نفس باندے به هیڅ ظلم نهٔ شی کولے اګر چه (دَ اوړی) دَ دانے په مقدار وی هغه به هم مونږ راوړو او مونږ دَ حساب کولو دَ پاره کافی یو۔ نو هغه سړی اووئیل: یا رسول الله ﷺ زهٔ خو دَ دوی او ځان دَ پاره دَ جدا والی نه بنهٔ څیز نهٔ بیا مومم زهٔ تاسو ګواه کوم چه دوی ټول آزاد دی۔

(۳۸) وَ عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ اِلٰی اَزْوَاجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَسْأَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا اُخْبِرُوْا بِهَا کَاَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا فَقَالُوْا اَیْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَ قَدْ غَفَرَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَا

تَاَخَّرَ فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّیْ اللَّیْلَ اَبَدًا وَ قَالَ الْاٰخَرُ اَمَّا اَنَا اَصُوْمُ النَّهَارَ اَبَدًا وَلَا اُفْطِرُ وَ قَالَ الْاٰخَرُ اَنَا اَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا اَتَزَوَّجُ اَبَدًا فَجَاءَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَیْهِمْ فَقَالَ اَنْتُمُ الَّذِیْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَ كَذَا اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَ اَتْقَاكُمْ لَهٗ لٰكِنِّیْ اَصُوْمُ وَ اُفْطِرُ وَاُصَلِّیْ وَ اَرْقُدُ وَ اَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّیْ (رواه البخاری ومسلم)

(۳۸) دَ انس رضی الله عنه نه روایت دے چه درے کسان دَ ډلے په شکل کښے دَ حضور ﷺ بیبیانو ته راغلل او دَ نبی ﷺ دَ عبادت په باره کښے ئی پوښتنه کوله کله چه هغوی ته خبر ورکړے شو نو ګویا هغوی کم اوګڼړلو نو وے وئیل: چرته مونږ او چرته نبی ﷺ حال دا چه الله پاک ورته وړاندے او روستو خلاف اولیٰ کارونه معاف کړے شی۔ نو دوی کښے یو کس اووئیل: زهٔ چه یم همیشه به دَ شپے مونځ کوم او بل اووئیل: زهٔ چه یم همیشه به دَ ورځے روژه نیسم او نهٔ به کوژه کوم۔ او بل اووئیل: زهٔ به دَ ښځو نه ډډه کوم کله به هم وادهٔ نهٔ کوم۔ نو نبی ﷺ دوی ته تشریف راوړو ورته ئی اوفرمائیل: تاسو هغه کسان یئ چه دا دا خبرے مو کړے دی خبردار! په الله قسم! زهٔ په تاسو کښے دَ الله نه زیات یره کونکے او دَ هغهٔ دَ پاره زیات پرهیزګاریم۔ لیکن زهٔ روژه هم نیسم او کوژه کوم هم او مونځ هم کوم او اودهٔ کیږم هم، او زهٔ بیبیانے هم کوم، پس چا چه زما دَ سنتو نه

مخ واړولو هغه زما (دَ ډلے) نه نهٔ دے۔

(۳۹) وَ عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَ وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَاَنَّ هٰذِهٖ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَاَوْصِنَا فَقَالَ اُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَاِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَاِنَّهٗ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرٰى اِخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَ سُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ ، تَمَسَّكُوْا بِهَا وَ عَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَ اِيَّاكُمْ وَ مُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ

(رواه احمد و ابو داود)

(۳۹) دَ عرباض بن ساریه رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی مونږ ته یوه ورځ رسول الله ﷺ (دَ جمع) مونځ راکړو بیا ئی مونږ ته مخ را واړولو او مونږ ته ئی یو زړهٔ پورے رسیدونکے نصیحت اوکړو۔ دَ هغے دَ وجه سترګو اوبهیدلے او زړونه اوبریدل نو یو سړی اووئیل: یا رسول الله ﷺ ګویا دا دَ رخصت کونکی وعظ دے، مونږ ته وصیت اوکړئ نو دے فرمائیل: زهٔ تاسو ته دَ الله دَ تقوی او دَ (امیر) دَ اوریدلو او منلو وصیت کوم اګر که یو حبشی غلام وی۔ پس که څوک زما نه پس ژوندے پاتے شو نو زر ده چه ډیر زیات اختلاف به اووینی پس په تاسو باندے زما او دَ

خلفائے راشدینو، کومو ته چه هدایت کړے شوے دے، سنت (عملی کول) لازم دی۔ په دے عمل کوئ او په غاښونو کښے ئی کلک اونیسئ او ځان د نوے کارونو نه اوساتئ ځکه چه هر نوے کار بدعت دے او هر بدعت ګمراهی ده۔

(۴۰) وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ إِلَّا مُؤْخَرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلٰى عِبَادِهٖ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَّعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا، وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ أَنْ لَّا يُعَذِّبَ مَنْ لَّا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا. (رواه البخاری و مسلم)

(۴۰) د حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی زۀ رسول الله ﷺ پسے په یو خر سور وم زما او د هغوی په مینځ کښے صرف د کجاوے روستنے لرګے وو نو وے فرمائیل: اے معاذ! آیا تا ته پته لګی چه د الله پاک په بندګانو څۀ حقونه دی؟ او د بندګانو په الله پاک باندے څۀ حقونه دی؟ ما اووئیل: الله پاک او د هغۀ رسول ﷺ ښۀ پوهیږی۔ وے فرمائیل: د الله پاک په بندګانو باندے دا حق دے چه دوی به ئی عبادت کوی هیڅ څیز به ورسره شریک نۀ جوړوی او د بندګانو حق په الله پاک دا دے چه هغه به

هغه چا ته عذاب نهٔ ورکوی څوک چه ورسره څهٔ څيز نهٔ شريکوی ما

اووئيل: يا رسول الله ﷺ ! آيا زهٔ خلقو ته دَ دے زيرے نهٔ ورکوم نو وے

فرمائيل: زيرے مهٔ ورکوه ګنے بيا به هم داسے بهروسه اوکړی۔

وَهٰذَا اٰخر الاحاديث من هذا الباب و بتمامه تم الكتاب

والحمد لله رب العالمين والصّلوٰة علٰى سيّد رُسُلهٖ

محمد وّاٰله و صحبه اجمعين قال المؤلف عفى اللّٰه عنه و

شكر سعيه فرغت من تسويد هذا الكتاب بحمد الله و

حُسن توفيقهٖ فى شهر رمضان المبارك سنة اربع و سبعين

بعد الف و ثلاثمائة من الهجرة النبوية على صاحبها الصّلوٰة

والتحيّة .

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆

Mob : 0333-91 066 08